انټرنېشنل جنرل آف

# پښتونخوا

جلد دويم، جنوري/جون ۲۰۱۷ء



په پښتو او انګرېزۍ ژبه کښې د باچاخان چېئر
عبدالولي خان پوهنتون
شپږمياشتنئ ګڼ ارخيز تحقيقي جرنل

ISSN: (Online)

ISSN: 2519-7096 (Print)

**انټرنیشنل جنرل آف**

# پښتونخوا

**په پښتو او انګریزۍ ژبه کښې د باچاخان چئیر**
**عبدالولي خان پوهنتون**

**شپږ میاشتنۍ ګڼ اړخیز تحقیقي جرنل**

**شماره نمبر**: 2 **جنوري – جون**2017

**باچاخان چئیر**

## عبدالولي خان پوهنتون

**خیبرپښتونخوا(پاکستان)**

**سرپرست اعلي**

پروفېسر ډاکټر احسان علي

وائس چانسلر

عبدالولي خان يونيورسټي مردان

**مدير**

ډاکټر محمد سهېل

سيکرټري باچاخان چيئر

عبدالولي خان يونيورسټي مردان

**معاون مديران**

ډاکټر سيد ظفر الله بخشالي

ډاکټر نصرالله خان

**نائب مدير**

اثر جان

# مجلس انتظامي


سرپرست اعلي: پروفېسر ډاکټر احسان علي
وائس چانسلر
عبدالولي خان پوهنتون مردان

مدير: (1)ډاکټر محمد سهېل خان
سکرټري، باچا خان چيئر عبدالولي خان پوهنتون
مردان
msohail@awkum.edu.pk

نائب مدير: اثر جان
پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون

پبليکيشن آفېسر:

کمپوزنګ سيکشن: اثر جان (پښتو)
(انګلش)



بيعه: 300 روپۍ

پبلشر: باچا خان چيئرعبدالولي خان پوهنتون
يونيورسټي مردان

# مجلس ادارت


| | |
|---|---|
| ډاکټر جهانزېب خان خلیل<br>ډین آف سوشل سائنس<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان<br>Jehanzeb.regi@gmail.com | ډاکټر حافظ محمد انعام الله<br>اېسوسیټ پروفېسر، آئي اي آر<br>یونیورسټي آف پېښور |
| ډاکټر سید راشد علي<br>چیئرمېن، ډیپارټمنټ آف<br>سوشیالوجي<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان<br>Syed.rashid@gmail.com | پروفېسر ډاکټر رسول خان<br>انسټیټیوټ آف کېمیکل سائنس<br>یونیورسټي آف پېښور |
| ډاکټر عبدالشکور<br>ډیپارټمنټ آف انټرنېشنل رېلېشن<br>عبدالولي خان یونیورسټي مردان | ډاکټر ناصر<br>ډیپارټمنټ آف انفارمېشن<br>ټېکنالوجي<br>یونیورسټي آف انجینئرنګ اینډ<br>ټېکنالوجي پېښور |
| پروفېسر ډاکټر نصر الله خان وزیر<br>ډائریکټر<br>پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون | پروفېسر ډاکټر نصیب الله سیماب<br>پښتو څانګه کوئټه بلوچستان<br>Nseemab902@gmail.com |
| ډاکټر بادشاه روم<br>(علي خېل دریاب)<br>چیئرمین پښتو څانګه ملاکنډ<br>پوهنتون | ډاکټر محب وزیر<br>ډائریکټر پختونخواسټډي سنټر<br>باچا خان یونیورسټي چارسده |

# مجلس ادارت قومي


| | |
|---|---|
| ډاکټر سيد وقار علي شاه<br>ډين آف سوشل سائنس<br>قائداعظم يونيورسټي اسلام آباد | ډاکټر خادم حسين<br>ډائرېکټر<br>باچا خان ټرسټ اېجوکېشن<br>فاؤنډېشن پېښور |
| ډاکټر ناصر جمال خټک<br>وائس چانسلر<br>يونيورسټي آف هري پور | ډاکټر سلمي شاهين<br>سابقه ډائرېکټر، پښتو اکېډمي<br>پېښور يونيورسټي |
| ډاکټر فضل رحيم مروت<br>وائس چانسلر<br>باچا خان يونيورسټي چارسده | ډاکټر ياسين اقبال يوسفزے<br>چيئرمين، ډيپارټمنټ آف فيزکس<br>پېښور يونيورسټي<br>dryaseeniqbal@yahoo.co.uk |

# مجلس ادارت بین الاقوامي


| | |
|---|---|
| ډاکټر عبدالکريم خان<br>چیئرمېن ډيپارټمنټ آف آيشين<br>سټډيز<br>يونيورسټي آف ماناوا ،<br>هوائي، يونائټډ سټيټ<br>khana@hawail.edu | ډاکټر موکوليکه بېنرجي<br>ايسوسي ايټ پروفېسر<br>سکول آف اکنامکس، لندن<br>يونائټډ کنګډم<br>m.banerjee@lse.ac.uk |
| ډاکټر عبدالظاهر شکيب<br>سينئر ريسرچ آفېسر<br>علوم اکيډمي کابل، افغانستان<br>zahirshakeeb@gmail.com<br>zahirshakeeb@asa.gov.af | ډاکټر فدا محمد<br>ډيپارټمنټ آف سوشيالوجي<br>يونيورسټي آف نيويارک<br>fida.mohammad@oneonta.edu |
| ډاکټر خليل الله ارمړ<br>اکيډمي آف سائنس<br>کابل افغانستان<br>Khalil.ormar@asa.gov.af | ډاکټر سيد محي الدين هاشمي<br>سينئر ريسرچ آفېسر<br>ډيپارټمنټ آف پښتو ، کابل<br>يونيورسټي افغانستان<br>m.hashimi@asa.gov.af |

# فهرست



| شماره | عنوانات | مصنف | صفحه |
|---|---|---|---|
| 1 | "امین افغاني له امرتسر" د پښتو د نوي تنقید بنسټ گر | فېصل فاران<br>ایاز الله ترکزے | 1-12 |
| 2 | عبدالرحمان بابا یو آفاقي شاعر | نور الامین یوسفزے<br>زر محمد سنگر | 13-22 |
| 3 | غزل۔ یوه هېئتي او روایتي جائزه | ډاکټر محمد زبیر حسرت | 23-45 |
| 4 | رومانتیسیزم او پښتو ادب | عبدالظاهر شکیب | 46-66 |
| 5 | د میر مهدي شاه د زنداني ادبي تخلیقاتو تنقیدي څېړنه | ډاکټر نور البصر امن | 67-80 |
| 6 | د ترقي پسند تحریک پس منظر | ډاکټر نصرالله خان | 81-92 |
| 7 | د همېش خلیل د "چارگل" یوه تنقیدي څېړنه | جمشېد اقبال | 93-102 |

# "امين افغاني له امرتسر"
# د پښتو د نوي تنقيد بنسټ ګر

Faisal Faran* Ayaz Ullah Tarakzai**

**Abstract:**

Amin Afghan of Amrathsar. Amin Afghan was the pen name of Hafiz Idrees of Turu. He is a prominent figure of pashto new modern literature. In the pashtoon magazine of 1940 his essay of critcism had been published in which he had criticised Ghani khan's poetry on historical evidences which makes him the founder of the new literary criticism in pashto. All should accept his this status untill we find others before him.

پښتو زوړ ادب کښې تنقيد په شعرکښې موندل کيږي لکه دپښتو لمړې معلوم غزل پاله شاعر اکبر زميندا وري چې وائي چې دمغلو تېمر وسوم هسې اورکښې نو داپه معاصر صورتحال تنقيد هم دې او دسماج ادراک هم دې يا خواجه محمد بنګش چې وائي ددرانو بادشاهۍ کښې انصاف نشته زه به په بل لوري اوځم يا رحمان بابا چې اوراوګور اوپښور يوګڼي داټول سماجي ادراک اود پښتون شاعر تنقيدي ذهنيت ښائي خو بياد دخوشحال خټک په شاعرۍ کښې په سماجي سياسي او ادبې حوالوډير

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Mphil Scholar Pashto Academy University of Peshawar

او ښه باضابطه تنقید موجود دې ترڅې چې یو نظم کښې هغه د شاعرانو موازنه هم کوي چې دولت لوانې پکښې درې پاؤه وزن دار او ځان ترې ځو شرشاهي تېر ګڼي دغسې د شعروشاعرۍ په حواله هم خپل تنقیدي فکر ښکاره کوي دا د فاسق فاجر اوږسترګي او کنګال منصب نه ګڼي بل خوا دشعري نزول ته حیض رجال وائي داډیره دفکرنکته ده نن نوې نفسیات هم دغسې فنون د تخلیقي جبلت پیداوښت راښائي او دحیض رجال دخبره هم دشعر فن یوه کرښاک فکري مجبوري راښائي دخوشحال خټک غونډې عبدالرحمان مومند هم دشاعرۍ په بابله خپل نکته نظر لري او دهغه نکته نظر دادې چې شعروشاعري یوه پاکیزه کار دې دې نه داخلاقیات دروزنې دمذهب دتشهیر او د معرفت دخپرونې کار اغسته پکاردي ځکه هغه وائي چې زمادشعر خبرې به قرآن وحدیث کښې دننه موجود وي او ده هم دغسې چې دشعروشاعرۍ بنیادي مواد ئې په مذهبي او صوفي روایتونو اډانه دې خو درحمان بابا لوئې اختصاص چې هغې کښې هغه بې ځاره دې دغزل هغه تنقیدي روایت پالل دي دکومې له مخه چې کلاسیکي شاعرانو غزل کښې دننه دیوبل تنقیدي آصلاح کوله رحمان بابا دخپل شعر د ویاړ په تقدس کښې خصوصي توګه باندې دحافظ شیرازي دغه ډول تنقیدي اصلاح کړې ده چې چرته ئې دهغه دشعر څه فني فکري لساني کمزوري لیدلي ده دهغه شعر مضمون ئې خپلو الفاظو کښې داسې بیان کړې دې چې متذکره خامي ئې ترې وباسلې ده دایو قسم د حافظ هغه حیثیت ته ګوته نیول دي چې ورته لسان الغیب( یعني تلمیذ الرحمن )لقب ورکړې شوې دې هم ځکه دهغه مقابله کښې بیا کلاسیک روایت کښې رحمان بابا ته معجز بیان لقب ورکړې شه ګویا داپه حافظ شیرازي دهغه دبرترۍ یو اعتراف و کوم

ځوک چې د کلاسیک ددې تنقید روایت باندې پویه نه دي هغوئي داګمان کوي چې ګویا رحمان بابا د حافظ شیرازي پیروکار دې دې تېروتنې پښتو ادب کښې لویه ګمراهي پیداکړې ده رحمان بابا د شیرازي شاعرانه حیثیت چیلنج کوي ځکه دهغه په ځنې شعرونو اصلاح په دې شکل ورکوي او هم ځکه ئې خپله شاعرۍ کښې نوم هم نه اخلي اګرکه د دیوبل مشهور شاعر ثنائي نامه اخلي د دولت لواڼي نامه اخلي د خوشحال نامه اخلي کلاديکي شاعرانو کښې نورو هم ځائې په ځائې تنقیدي فکر ښکاره کړې خو دپښتو تنقید لویه سرمایه هغه اولسي ادب دې چې چاربیت مارو شاعرانو یوبل سره مقابلوکښې تخلیق کړې و له بده مرغه دا تنقیدي سرمایه زمونږ په لاس دلیک په صورت نه ده راغلې خو شفائي روایتونه ئې درک راکوي چې چاربیته ژانر د شعرې مقابلې درجحان نه راوتې صنف دې په هرحال ځومره پورې چې د پښتو نوي دور کښې د تنقیدي ادب خبره ده نو د ډاکټر میاسهیل انشاء مطابق د هغه نیکۀ شمس العلماء قاضي میراحمد شاه رضواني ئې بنیادپه یو نظم چې هغه ۱۸۹۸ء ز کښې لیکلے دے ایښې چې اته شاعران پکښې ستائیلي شوي دي، او دانظم د جدید تنقید لمړۍ نمونه ده هغه لیکلي دي چې:

*"پشتوزبان کاپہلا عالم جس نے پشتو میں جدید تنقید کی راہیں کھول دی میر احمد شاہ رضوانی ہے۔"*[1]

خو داسې ده چې میراحمد شاه کوم اتۀ شاعران، خوشحال، هجري، عبدالقادر، شیدا، رحمان بابا، حمیدبابا، علي خان او بابوجان دې نظم کښې یاد کړي دي، نو دائې ټول ئې په ستائینه یاد کړي دي دا هم هغسې ستائینه او هم د هغې نظم پیروي ده کوم چې اشرف هجري د مختلفو شاعرانو په شاعرۍ تبصره او ذکر دپاره لیکلے ؤ او پکښې ئې رحمان بابا

له لوړے شاعرانه مقام په دې انداز کښې ورکړے ؤ. خوږ زبان په زمانې شکرې نولي هغه واف چې مستقر ئې پېښور دې درحمان په وئيل ځائې د لقب نشته چې ئې ماشعر منظورکړو معتبر دې خودخوندخبره داده چې دانظم خپله اشرف هجري د خوشحآل خټک يونظم عکس ښکاري چې خان عليين پکښې دولت لوانړې مرزاانصاري او ځان ياد کړي دي شمس العلماء ميراحمد شاه رضواني هم خپل نظم کښې داسې ستائينه کوي لکه:

"پس له دوئ چې کاظم خان شېدا ګويا شۀ چې ؤ زويه
دانشمند د افضل خان پۀ هوا ئې هېڅ مارغۀ د خيال پرې
نښود دۀ چې باز د طبيعت کړو خپل پران لطافت او نزاکت
چې د کلام وۀ واړه خدائے کړه پۀ نصيب د کاظم خان"2

دې نه اندازه کيدے شي چې د ميراحمد شاه رضواني دا نظم تنقيد نه ولې منظومه ستائينه ده آلبته په نوي ادب کښې د تنقيد لمړۍ بېلګه چې مونږ ته مخامخ راځي هغه د" امين افغاني له امرتسر" يوه ليکنه" دکفرتمغه " په سرليک ده. چې د خدائی خدمتګار تحريك نمائنده رسالې پښتون اتمانزۍ د ۲۱ اپريل ۱۹۴۰ز په ګڼه کښې چاپ شوې ده. دا ليکنه د خان عبدالغني خان په دې مجله کښې دمستقلې لړۍ "ګډې وډې" په يوټوک کښې په "نظم الابلا به ګردان ملا"باندې يوه جارحانه شان ، شوخۍ نه ډکه تاريخي تنقيدي ليکنه ده. دا ليکنه بنيادي توګه باندې ددې نظم نما يا مسلسل غزل په مقطع شوې ده چې شاعر پکښې ملاجان نه دکفر دفتوې نه ورکولو خواست کوي ناقد دا اعتراض کوي چې د شاعر دا خبره بې ځايه ځکه ده چې هغه داسې څۀ لويه کارنامه نه ده کړې چې د هغې جواب کښې پرې څوك د کفر فتوی ولګولي او د کفر فتوی

دپاره لوئے کردار پکار دے.دلیک تمهید داسې خوندور انداز کښې شوې دې ؐفلسفي چې لېونې شي یالېونې چې فلسفي شي نوپه ګډووډو ګوتې پورې کړي کله په خړ سروپسې لګیاوي اوکله په سپین مخوپورې چونه مږي کله امسا راواخلي دچهترۍ خاوندسره ښځې وېشي اوکله لوړ راواخلي په پټکوپسې شي ولې په هرحال کښې "دیوانه بکارخودهوشیار " ځان دډز نه بچ ساتي ګوزارهم کوي اوږیره هم نیسي په سرتتؤړه هم ورکوي اومالش ئې هم کوي زمونږ دلېوني فلسفي تازه ګډې وډې چې مې واورېدې نوما وې لاړ سړې دمرتبې خاوند شو!!ولې چې غزل په خلاصي راتۀ نویاربیاپنکچر شوې ؤ نه توبه!روغ شوې و دګډو وډو لکۍ (مقطع) ئې داوه -ځار دې شم دږیرې ملا سوال دلېوني واوره نوم پرې دکافر مه ږده ددې غزل جواب کښې هلکه!پۀ تابه ولې دکافر نوم ږدي؟ته څوک ئې مجتهد ئې مجددئې بزرګ ئې لیډرئې؛ تادکوم بدعت جرړې وهلي دي یادکومې غلامۍ زنځیرونه دې شلولې دي چې دکفردتمغې په هوس ئې؟ خانه این سعادت به زوربازونیست!!!

"ته خبرئې چې داسند په دنیا کښې کومو خلکوحاصل کړې دې؟ دا فقط د مذهب امامانو مجتهدانو او لویو لویو بزرګانو عالمانودقوم مصلحانواودملک خادمانو په ډیره مشکله سره موندلې دې ماغوندې تاغوندې که ورته ډیر پسخیږي نوپه ځان دې چک ولګوي ملاصاحب لادومره اوزګار نه دې چې تاته دا د عزت خطاب درکړي"3

بیا داناقد د تاریخ نه دمالکي فقهه د امام مالك بن انس اودحنبلي فقهه د امام احمد بن حنبل مثالونه راوړي چې د کفر پۀ فتوی باندې زورلي ربړولي شوي وؤ. د امام مالك متعلق لیکي:

"یوځل ترینه فتوی او پوښتلے شوه که یو سړے د مرګ د ویرې نه ښځې له طلاق ورکړي نو هغه به طلاقه شي کنه؟ امام مالك اووې نه! پۀ دې باندې یو شور ګډ شۀ رنګ رنګ خبرې شروع شوې او د مدینې ګورنر اولګیده امام مالك ئې بندي کړه بیا ئې پۀ اوښ سور کړه ډم ئې ورپسې کړه او د مدینې په بازارونو کښې ئې لاس تړلے ښپه تړلے وګرځو ډم به آواز کوو چې هرڅوك چې د جبر طلاق نه منې د هغه به دا حال وي."4

لیکونکے لیکي:

"ورورہ ته به وائې چې پۀ دې معمولې مسئله کښې داسې څۀخبره وه چې داسې لوئے سړے پرې دومره وربړولے شو؟ واوره! چل داسې ؤ چې د هغه وخت بادشاهانو چې به د خلکو نه بیعت اخستو نو په قسم به ئې اعتبار نۀ ؤ کانې به ئې پرې غو رځول چې د بادشاه مخالفت به نۀ کوي دېخوا امام مالك ورله مسئله راویستله چې دا طلاق هډو طلاق نۀ دے نو بس جنګ جوړ شۀ."5

دغسې د امام احمد بن حنبل پۀ حقله لیکي:

"بادشاه ترینه تپوس وکړه چې قرآن دخدائی مخلوق دے که نه هغې اووې نه قرآن خو د خدائی خبرې دي. پۀ خبرو او مخلوق کښې ډېر فرق دے. بادشاه ایله بهانه غوښته هغه ساعت ئې قید کړو.-او سپاهیانو ته ئې حکم وکړو چې هرسحرئې- په کروړووهئ هرسحربه وهلې شو اودوینوداري به ترې بهیدلې چې دربارته به ئې

هتکړوکښې راوستو نولېونوفلسفیانو( معتزلیانو) به
ورله دباچاپه مخکښې په مخ توکانې تهوکل اوچې څومره
به ئې وس کېدودهغۀ تذلیل به ئې کوه - آخر د قتل قتوې
پرې هم ورکړے شوې."6

ددې دواړو مثالونو راوړلو پۀ ذریعه لیکونکے د تاریخ ثبوت راوړي چې د کفر فتوی د شعرو شاعري په رندانه جرات باندې د لګیدو طمع مه کوه دا ډېر لوئی اعزاز دے چې ددې دپاره د ملا مفتي نه د بادشاه وقت سره په اختلاف یا کلمه ضروري وي ګویا لیکوال دلته د ملا مفتي کردار هم پۀ ګوته کوي چې دا همېشه حکمران پۀ حکم فتوی ورکوي او دین فروش وي. داسې ښکاري چې امین افغانې در حقیقت د غني خان دې نظم کښې دملاجان په کرداراشاره نمائي او د هغه پست نفسیاتو په ګوته کولو باندې طیش کې راغلې دې ځکه چې دغه وخت پورې دې اندازکښې چاد ملاجان کردار شعروشاعري کښې داسې نه و رابربنډ کړې ځکه دټولې شوخۍ پرته چې کله هغه معتزله او لېونې فلسفي یوځائې مترادف ګرځوي نو او معتزلۇ بدې ردې وائي نوهغې نه اندازه کیږي چې هغه نظم لیکونکې ته څومره خشم کښې دې خو بلخوا دهغه داد خشم او شوخۍ دااسلوب ددې نظم نماغزل نه راولاړ پۀ ښکاره د رد مذهب او خلاف دین تاثرختموي دده لوئی حوالي د خپل دریځ په بنیاد راوړي بیا هغوئ سره تړلے تاریخ بیانوي د هغې رڼا کښې د غني خان ددې نظم رد مذهب شدت بیخي کم شي. ددې لیکنې ژبه ډېره سلیسه او هواره ده شګفتګي پکښې هم شته دے لکه

"نو اوس په اصل راز پوه شوې که لاپوه نه ئې نو فلسفه دي یونان ته پارسل که ګذاري واچوه او موطا امام مالك اوګوره"7

"دیوانه را اشاره بس است" ولي تا خو که د پنجاب د هائیکورټ پورې را روسوم نو هم به پوه نه شي.ولی شاباش په دې زمري چې بادشاه ته ئې دا هم نه وې چې ته سپې ئې که سړے د خدائی کارونو ته ګوره چې پۀ کوم سبا دې وژلے کیږي. بادشاه پۀ خپله پښې اګرې ته کړې."8

د پښتو نوې تنقید ددې لمړئ لیکنې خاصه علمیت، تاریخ، بامحاوره عوامي ژبه، د زبان و بیان شګفتګي او تجزیاتي ذهنیت دے، خو ښکاري داسې چې رسم الخط او املا مسئله پکښې وه ځکه ورسره لاندې د پښتون رسالې مدیر عبدالخالق خلیق لیکي:

"د پښتو رسم الخط او د مضمون نګارانو فرض:- اثر مضمونونه او نظمونه په داسې رسم الخط سره لیکلي، راځئ چې پۀ هغو کښې ډېر زیاتي غلطۍ وي مونږ امید لرو چې مضمون نګاران صاحبان به صحیح رسم الخط کښې مضمونونه لیکي (اداره)"9

دلته یوې بلې خبرې ته هم توجه راګرځول ضروري ګنمه چې دا نظم کلیات کښې چاپ د زوړ متن سره داسې توپیر لري:

"(الف) اے ملا ستا نیم قرآن مې واورید پۀ رباب کښې (پښتون رساله"10

"اے ملا ستا نیم کتاب مې واورېدو پۀ رباب کښې (د غني کلیات)"11

" (ب) دلته ملا مور نه شوې د هغه ځائی نه خدائی خبر (پښتون رساله"12

"دې جهان کښې مور نه شوې د هغه ځائې نه خدائې خبر (د غني کليات)"13

"(ج) ورك دې كړو منطق كښې فلسفه كښې دې ونۀ موندۀ (پښتون رساله)"14

"هير دې كړو منطق كښې پۀ مُنيا كښې دې ونۀ موندۀ (د غني كليات)"15

"(د) زار دې شم د ږيرې ملا سوال د لېوني واوره (پښتون رساله)"16

"زار دې شم له ږيرې ملا سوال د لېوني واوره (د غني كليات)"17

تنقيد كونكے د ليك وروستو كښې شاعر ته جواب وركوي چې ته هسې ويرېږې د دوئ په شان د دين او قام خدمت وكړه بيا دې فتوې خبره كوه او دې خلكو خو د فتوې پرواه نه كوله د ليكنې پائى پۀ دې ټكيو كوي:

"واوره دوئې كښې يو تن ؤ چې فتوى پرې چسپان شوه وې الحمد لله زۀ نن پوئ شوم چې پۀ رښتيا مسلمان يم يوبل ؤ هغه چې كاغذ لاس كښې واخست وې بيت الخلا كښې به پكار راشي. يو بل ؤ او يو لا بل ؤ سړيه ته هسې ويرېږې اول ځان د دوئ پۀ شان كړه د دين يا د قام څۀ خدمت وكړه بيا دا تمغه زمانه واخله"18

-(- يادونه )# د م-رشفق دتصديق له مخه امين افغاني له امرتسر اصل كښې د مردان بغدادي مشهور عالم حافظ

ادریس ؤ څوك چې د امرتسر اېم اے او کالج کښې د دينيات پروفېسر ؤ نو د سرکاري ملازمت د مجبورۍ له کبله به ئې د امين افغاني پۀ قلمي نامه دهغه وخت پښتون رسالې ته ليکنې کولې حافظ ادريس د انورشاه کشميري شاګرد ؤ داهم هغه حافظ ادريس دې چې فېض احمد فېض ترې یوه مرکه کښې د عربي زده کړې خبره کوي څکه چې هغه هم دغه وخت دې کالج کښې دانګریزۍ استاد ؤ وروستو حافظ ادریس بیاد پېښورپوهنتون دعربۍ ژبې دشعبې چيئرمين په توګه جامعه الازهر ته په شمله مۍ1965ز تلو چې قاهرې سره د هوائي جهاز حادثې کښې مړ شو"19

هرکله چې مونږ په دې حقيقت پوېه شو چې امين افغاني يو حافظ او ملا دې نو دلته مونږ دې ليکنه کښې دهغه په خشم هم پوېه شو او دملاجان په دفاع کښې دهغه په يکطرفه تاريخي حوالو راوړلو هم اورسو څکه چې اسلامي تاريخ کښې په ملائيت باندې دعقليت د بريالتوب دغه يو مثال د معتزله دې ولې بلخوا هميش ملائيت دعقل وخرد وفلسفې بنيادونه راباسلې دي په سوونو زرګونو خردمنده مفکران او فلسفيان سائنسدانان لکه الخوارزمي ابن سينا الخيامي الکندي الخازني ابن الهيثم ابن بيطار ابن باجه دغسې نور ئې کافران کړي په تش نوم خردمند او عقل دوست بنيادم ئې هم د فتوواو فتنو نه بچ نه دې پاتې شوې فلسفيان خو ئې ټول کافران ګرځولې دي دې ليک کې هم دملائيت داغيزې له کبله چې کله دمعتزله خبره کوي سکونډې ئې نورورسره بريکټ ليوني فلسفيان ليکي ګويا شاعر ته وائي چې ته هم غلط ئې څکه چې ليونې

فلسفي ځان ته وائي تاکښې او معتزله ډله کښې توپير نشته اګرکه اسلامي تاريخ کښې دخردمندۍ او خردافروزۍ په حواله د معتزله جماعت نه لوئې اوغوره مثال نشته خو دخپل وخت نه مخکښې پيدا شوې او ځنو مسئلو کښې غير ضروري انتهاپسندۍ له کبله داجماعت داسې له منځه لاړ چې ورسره د اسلامي تاريخ فکري پرمختګ هم منجمد شه کنه نن به دابدترين فکري پسماندګۍ سره مسلمانان نه مخ ځکه دې ليکنه کښې ناقد دتصوير يو محدود اړخ راخلي اوهغه هم د ملا دکردار صفائي د عالمانو امامانو په کردارکول غواړي خوبياهم دادريځ ئې بېوزنه نشو بللې ځکه چې دتاريخ او منطق دواړو پکارونه ئې دې ليکنې ته تنقيدي ارزښت هم ورکوي او بيا په دې حواله خو تاريخي آهميت لري چې دې ليکنې نه لاوړاندې کومه ليکنه مونږپښتو کښې نه مومو چې دتنقيد نوې اسلوب پکښې دومره جوت او په ډاګه وي ګويا مونږ وئيلے شو چې د پښتو نوي تنقيد بنسټ ګر مولانا ادريس حافظ دے او تر ځو چې ددې ليک نه وړاندې بل ليك نه وي را منځ ته شوې د نوي تنقيد د پېل خبره به د پښتون رسالې او ددې ليك دكفر تمغه او دحافظ ادريس له نامې نه کېږي.

## حوالې


1. انشاء- ډاکټر میا سهیل- اوبلم پهلا قدم- مئ ۲۰۰۹ء- یونیورستي پبلشرز قصه خواني بازار پشاور- ص نمبر ۱۲۹.
2. ایضاص نمبر - ۱۲۹.
3. پښتون مجله- مئ ۱۹۴۰ء مخ **۲۴**.
4. هم دغه حواله مخ- **۲۵**
5. هم دغه حواله دغه مخ
6. همدغه حواله مخ- ۲۶.
7. هم دغه حواله مخ **۲۵**
8. همدغه حواله مخ **۲۲**
9. همدغه حواله مخ **۲۴**
10. هم دغه حواله مخ**۲۴**
11. غني خان- لټون(کلیات)- ستمبر ۲۰۰۵ز- یونیورستي بُك ایجنسي پېښور- مخ ۷۳۴.
12. پښتون مجله- مۍ ۱۹۴۰ز مخ **۲۴**
13. غني خان- لټون- مخ ۷۳۴.
14. پښتون مجله- مخ **۲۴**
15. غني خان- لټون- مخ ۷۳۴.
16. پښتون مجله- مخ **۲۴**.
17. غني خان- لټون- مخ ۷۳۴.
18. پښتون مجله مخ **۲۲**
19. پښتون مجله-پېښور دریم دوردیارلسم کال۲۰۱۸ز ۱۲۷ ګڼه مۍ مخ- ۱۸

# عبدالرحمان بابا يو آفاقي شاعر

Noor ul Amin Yousafzai* Zar Muhammad Sangar**

**ABSTARCT**

The renowned poet of Pashto: Rahman Baba is equally popular among the Pashtoon for his simplicity and précised style. Being a Sufi poet he is famous as Shair e Insaaniat in Pashto literature and this theme made him the Universal poet as well. Because the humanity, affection and peace is the universal facts. This paper is about that theme of Rahman Baba.

نن زۀ د انساني تاريخ په يو داسې مثالي کردار باندې د ليک جرات کوم څوک چې هم په پښتون قام کښې د هر چا نه زيات مقبول شاعر دے. او هم د خپلې زمانې د شاعرانو سره سره د نوي دورو څېړنکارانو- او پوهانو ورته د يو با عمله صوفي او عاشق رسول(ص) خطاب ورکړے دے. هغه چې کله دا دعا غواړي چې:

"زۀ رحمــــان د محمـــد د در خــــاکروب يـــم
کـــه ئـــې نـــۀ کـــا خـــدائے د دې دره جـــدا"1

* Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

** Lecturer Department of Pashto Islamia College University of Peshawar

"نو دا ځکه چې محمد هم د هغهٔ نبي دے او هم ئې جانان دے او د هغهٔ دغه جانان ته الله پاک د رحمت اللعالمين خطاب ځکه ورکړے دے چې هغهٔ انسان د عالم وحشت نه عالِم انسانيت ته راواړولو او د دې مقصد لپاره ئې د هر قسمه تکليفونه تېر کړل. خو هيچرې ئې چرته ګيله او چاته خبره ونکړه. هغهٔ چې کله مېرمنو ته عزت ورکړو. مور له ئې احترام ورکړو او غلامانه سره ئې هم محبت اوکړو او هم ئې د دوي په ازادۍ ثوابونه مقرر کړل نو که څوک زنانه مسلمانه وه او که کافره خو د دغه وروستو بيا چا نهٔ د زنانه استحصال کولے شو اونهٔ د بل کوم غريب او بې وسه انسان ځکه چې الله پاک ورته فرمائي چې ما ستاسو وجود او عملي ژوند يعنې سيرت د ټولو عالمينو د پاره دائمي رحمت لېږلے دے." 2

د صوفي عبدالرحمان د ديوان يو پوټکے او يوه يوه مصرعه په دې خبره ګواه ده چې د دې ليکونکے او ويونکے د هر قسمه هوس، لالچ، بُغض، کينې، حسد او رياکارۍ نه پاک د مينې محبت، عرفان او صداقت يو پيکر دے. د لوړو انساني قدرونو يو ژوندے او مجسم مثال دے.

د رحمان بابا کلام د پښتنو د ټولنيز ژوند دوو بنيادي ادارو حجره او جومات کښې يو شان مقبول دے. که له يوې خوا په حجره کښې پښتانهٔ زلمي د مينې او محبت په جذبه ماموره سندرې د منګي او سيتار سره وائي او خپل مئيلسو نه پرې تودهٔ ساتي نو بلخوا زمونږ عالمان او خطيبان هم چې کله په خپله خبره د صداقت مهر لګوي. نو د قرآن او حديث نه پس هم د بابا د ديوان نه ديو نه يو شعر حواله ورکوي.

پښتونخوا کښې يو شفاهي روايت دے "چې سوات باباجي به وې که په مونځ کښې د قرآن نه علاوه د بل کوم کتاب د لوستلو اجازت وے نو ما به د رحمان بابا بېتونه لوستل" د بابا د شاعرۍ ددې عالمګيريت او مقبوليت درې بنيادي اسباب دي يو د لوړو او اعلیٰ انساني اقدارو پېغام او عشقِ رسول(ص) دوېم د انداز او اسلوب سادګي، سلاست او شيرني او درېم د انسانيت سره مينه او افاقيت، د بابا د کلام سادګي هغه سادګي ده چې په خپله لمنه کښې ئې شيرينۍ سره سره رنګيني او لطافت هم رانغاړلے دے او د سهل ممتنع تر حده رسېدلے دے.

د اعلیٰ انساني قدرونو د پرچار او ګرد انسانيت سره د مينې په سبب بابا ته دنن زماني نقادانو د شاعرِ انسانيت او آفاقي شاعر خطابونه ورکړي دي او دا ځکه چې دبابا د پېغام دمينې پېغام دے. د انسانيت او انسان دوستۍ سندره ده ځکه ورته زۀ هم افاقي شاعر وايم بابا وائي:

"لکـــه ځـــان دے هســـې بـــل وتـــه نظـــر کـــا
لکـــه ســـتا دے هســـې ځـــان دے د هـــر چـــا"3

دا چې د بابا کلام په سادګۍ کښې دومره رنګيني لري. د دې لپاره بابا د خدائے پاک نه داسې سوال کوي:

"الٰهـــي د خپـــل حبيـــب(ص) لـــه برکتـــه
دا ســـاده انشـــاء رنګينـــه د رحمـــان کـــړي"4

او بيا چې کله د دغه درويش د خلې نه دا دعا ووته او د دواړو جهانو خالق واورېده نو هم د خل حبيب(ص) په صدقه کښې ئې ورته هم دغه ساده انشاء رنګينه کړه او بيا دغه عارف رحمان ته خپل وجدان دا زيرے ورکړو چې ستا دعا قبوله شوه. نو ځکه ئې دعویٰ وکړه چې:

"چې منکر پرې اعتراض کولے نۀ شي
دا دې شعر د ے رحمانه که اعجاز"5

ځکه مونږ دا وئیلے شو چې د بابا په کلام کښې دا سادګي، شیریني او په سادګۍ کښې دا رنګیني د لوئے خالق پېرزونه ده چې بابا پکښې د ګران نه ګران مضمون په ډېره اسانه او جانانه انداز وړاندې کړے دے.

د حق پرستۍ، انسان دوستۍ او مینې محبت د علمبرداره دي. ستر صوفي شاعر تعلق د صوفیانو د هغه ډلې سره دے چا چې په خپل ذاتي ژوند کښې چرې هم د دنیا د منصبونو او دولتونو سره څۀ تعلق او مینه نۀ ده ساتلې. خو د خپل دور د حق او باطل په جنګ کښې هېڅکله هم غېر جانبداره او بې طرفه نۀ دے پاتې شوے. اصل کښې دا هم د پښتو تصوف ځانګړتیا ده چې د پیر روښان نه راواخله تر دې دمه چې څومره هم پښتانۀ صوفیان تېر شوي دي دا ټول د خپل وخت ډېر، متحرک، با عمله او ژوندي خلق وو. او د خپل دور په سماجي، سیاسي او اقتصادي ژوندي ئې جوښت نظر وو. لکه د مثال په توګه بابا د خپل دور د مغلو ظالمانه او آمرانه نظام داسې رد کوي:

"په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او اور او پېښور درې واړه یو دي"6

او د دغه قسمه اشرافو په مقابله کښې خپل هم مشرب او هم، عقیده ننداف د نړۍ د ټولو حق پرستو د علامت په توګه داسې درنوي:

"اورنګ زیب او شاهجهان غونډې اشراف
صدقه شه تر منصور غونډې ننداف"7

مونږ ته معلومه ده چې تصوف په خپله یوه همه ګیر او آفاقي نظریه ده او په کائناتي تکون کښې دا یو عالمګیر، آفاقي روحاني تصور او اپروچ دے.
کوم انسان چې دا عقیده لري چې دا ټول کائنات د خالق کائنات نور دے. او په اعتباري حېثیت سره هم د ذات حق اجزا دي. د ذات حق مثال که د سرچینې دے نو دا چینې دي او که د هغهٔ مثال د تخم دے نو دا ترې ونې راوتي دي. نو یو داسې کس په چا د ظلم او زیاتي تصور هم نهٔ شي کولے او نهٔ د بل یو انسان نه د رنګ، نسل او ژبې په بنیاد کرکه کولے شي ځکه خو زمونږ صوفي بابا وائي:

"واړه د خپل ځان په نظر ګوره که دانا ئې
اے عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دے"8

تاریخ ګواه دے چې کله جلال الدین رومي (رح) د حضرت شمس التبریز غونده صوفي مرید شو نو دا سبق ئې ایزده کړو چې:

"I am not from the east or the west. I belong to the kingdom of love. I am selfless and raceless."9

او زمونږ صوفي بابا د خپل وجدان او جذبه عشق په زور دا اعلان وکړو چې

"زهٔ عاشق یم سروکار مې دے له عشقه
نهٔ خلیل نهٔ داودزے یم نهٔ مومند"10

او بیا هم د خپل ورحاني توان په زور یو قدم نور هم مخکښې اخلي او وائي چې:

"دا جهان دے خدائے له عشقه پیدا کړے
د جملهٔ مخلوقاتو پلار دے دا"11

نن زمونږ په ټولنه کښې د مذهبي رواداری، زغم، او صبر زښت فقدان دے. غیر مسلم خو پرېږده خپل مسلمانان د عقیدې او درېځ د اختلاف په بنیاد یو بل وژني او زمونږ بابا د نن نه سوونه کاله اګاهو د هزارخوانۍ په یو ګوټ کښې ناست دے او دا اعلان کوي چې:

"دا زمـــا د یـــار جلـــوه دے چـــې لیـــدۀ شـــي
لکـــه نمـــر پـــه صـــومعه پـــه ســـومنات"12

دلته که مونږ وګورو نو صوفي عبدالرحمان د ګړدې نړۍ ټول منونکي او عبادت ګزار خپلې سینې ته راجوښت کړي دي. او د خپل محبوب عاشقان ئې ګڼلي دي.

د فکر او سوچ دا پراختیا او د زړۀ دا لوئے والے په اصل کښې هم د هغه جذبې ورکړه دي څۀ ته چې جذبه عشق او جذبه عرفان وائي:

د بابا ټول دیوان د داقسمه انسان دوستۍ او آفاقي پېغام نه برجق دے.

زۀ د دغه سمندر نه دي لږ کښې څو لیکې راخلم:

"آدم زاد پـــه معنـــې واړه یـــو صـــورت دے
هـــر چـــې بـــل ازاروي هغـــه ازار شـــي
هغـــه زړۀ بـــه لـــه طوفانـــه پـــه امـــان وي
چـــې کشـــتۍ غونـــدې د خلقـــو بـــار بـــردار شـــي"13

بل ځائے وائي:

"آدمیـــت څـــۀ پـــه دولـــت نـــۀ دے رحمانـــه
بـــت کـــه روغ دے د ســـرو زرو نـــۀ انســـان شـــۀ"14

او که داسې ده هم دا صداقت دے هم رښتیا دي نو بیا پکار دا دي چې مونږه د یو انسان په حېث داسې ژوند خپل کړو :

"کــــر د ګلــــو کــــړه چــــې ســــیمه دې ګلــــزار شــــي
اغــزي مــهٔ کــره پــه پښــو کښــې بــه دې خــار شــي"15

خو تش په مثبت کردار او مینه ژوند نهٔ تمامېږي. په ژوند کښې حق پرستي او د حق سره اودرېدل هم د خالق حکم او هم د انسانیت تقاضا ده. ځکه نو بابا وائي:

"دا بــه نــهٔ شــي چــې ســتا ښــټ وي دحــق مــخ وي
کــه حــق غــواړے تــهٔ هــم مــخ پــه حقیقــت کــړه"16

مونږ ته دا هم معلومه ده چې انسان په خپل ذات کښې د سُبحاني قوتونو او حېواني جبلتونو مرکب دے. او د انسان د انسانیت او انساني عظمت تقاضا دا ده چې دے دې په خپلو حېواني جبلتونو داسې قابو ومومي لکه څنګه چې په اس سورلي کوونکے خپل اس راقابو کوي او خپل منزل ته پرې ځان ور رسوي. دے به هم دغه جبلتونه وژني نهٔ د خپل عقل سلیم په زور به یې د روح غېږ ته ورکړي بیا به هم دغه جبلتونه د جذبې حېثیت اختیار کړي او بیا به د انسان او انسانیت لپاره د خېر او ګټې سبب وګرځي. بابا د انسان او نساني ژوند په دغه جدلیاتي عمل او سفر داسې رڼا اچوي:

"پــــه آدم کښــــې د حېــــوان خویونــــه شــــته دے
بیــــا هــــا لــــه ئــــې آدم بولــــه چــــې آدم شــــي"17

کله چې بابا د انسان په وړاندې دغه آفاقي کلیه او قانون کېږدي نو بیا ورته د انساني ژوند افاقي اصولو او لوړو انساني قدرونو تلقین داسې کوي:

"کــم خــوراک ســړے فرښــتو وتــه نــژدې کــا
هــر ســړے چــې بســیار خــور شي بســیار خــوار شــي"18

د دې نه پس يو قدم نور هم وړاندې اخلي او نسان ته وائي چې په انسانانو کښې غوره انسان هغه دے چې د نورو انسانانو پکار راشي.

"ښـهٔ خـوارهٔ چـې يـو ئـې خـوري بـل ورتـه ګـوري
خـــوارهٔ نـــهٔ دي هغـــه زهـــر دي ګويـــا"19

د دنيا او دنياداری په حقله زمونږ د مذهبي طبقې رويه هم څهٔ عجيبه شانته ده. په خُلهٔ دنيا ته بد رد وائي خو اکثر ئې عمل د خپلې وېنا په ضد وي. خو زمونږ بابا زمونږ په وړاندې دلته هم يو داسې آفاقي رښتيا بږدي کوم چې د انساني فطرت او ساهو دين سره سم دي او وائي:

"ښـــــه ده ښـــــه ده دا دنيـــــا
چـــــې توښـــــه ده د عُقبـــــیٰ
ددنيـــــا پـــــه بـــــازار کېـــــږي
د هغـــــه جهـــــان ســـــودا"20

مطلب دا چې دنيا ته بد نهٔ وائي انسان ته وائي چې په دې دنيا کښې ښهٔ کارونه وکړه نېک عمل او ښهٔ کردار ادا کړه نو هم دغه دې په دې بازار کښې ګټه ده.

د انساني فطرت په حقله هم آفاقي صداقت زمونږ مخې ته داسې بږدي:

"ګـاه پـه غارمـه سـوزے ګهـے رېـږدې پـه سـارهٔ
کلـه مـرې د لـوږې کلـه مـرې پـه ډېرخـوارهٔ
واړه پـه غوغـا دي چـې راغلـي پـه دنيـا دي
نـهٔ ئـې هغـه اوږي پـه قـرار دي نـهٔ مـارهٔ"21

لنډه دا چې بابا عبدالرحمان زمونږ د قامي او ادبي تاريخ هغه لوړه مناره او ځلنده باب دے چې نهٔ صرف په خپل دور او زمانه کښې په عامو او خواصو کښې مقبول وو بلکې نن هم د هغهٔ افکار او خيالات زمونږ د

ژوند د لارې بل مشالونه دي. ځکه چې د بابا پېغام د امن، مينې، صداقت او عشق پيغام دے. او مينه، محبت يوه لازواله جذبه او آفاقي صداقت دے.

# حوالې

1 رحمان بابا کلیات، تحقیق و ترتیب دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند، ۱۹۸۳ء،افغان پرنټرز کابل، ص ۳
2 قېس، انعام الله جان، پروفېسر، د کائنات سپرلے، جنوري ۲۰۰۵ء، نیو اتفاق پرنټنګ پرېس محله جنګي پېښور، ص ۱۰
3 رحمان بابا کلیات، تحقیق و ترتیب دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند، ۱۹۸۳ء،افغان پرنټرز کابل، ص ۱۰
4 همدغه اثر، ص ۳۵۳
5 همدغه اثر، ص ۱۰۱
6 همدغه اثر، ص ۳۲۳
7 همدغه اثر، ص ۱۱۰
8 همدغه اثر، ص ۳۲۹
9 lif Shafak, The Forty rules of love, Viking penguin, Britain, 2010, p 3
10 د رحمان بابا کلیات، تحقیق و ترتیب، دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند، ۱۹۸۴ء، پېښور، کوهاټ روډ، ص ۷۲
11 همدغه اثر، ص ۲۲
12 همدغه اثر، ص ۲۵
13 همدغه اثر، ص ۲۷۲
14 همدغه اثر، ص ۲۴۵
15 همدغه اثر، ص ۲۷۱
16 همدغه اثر، ص ۲۲۰
17 همدغه اثر، ص ۲۸۲
18 همدغه اثر، ص ۲۷۳
19 همدغه اثر، ص ۱۰
20 همدغه اثر، ص ۱۵
21 همدغه اثر، ص ۲۳۴

# غزل - يوه هېئتي او روايتي جائزه

Dr. Muhammad Zubair Hasrat*

**Abstract:**

There are so many forms of poetry in the eastern poetry. Ode(Ghazal) is one of them. It is the most loved form poetry. This research paper deals with the form, history, subjectice and objectice study of ode. In addition the ancient, classical and modern odes of pushto literarture are discussed here. The different aspects of ode are also paid heed in this research. Hope that the readers will ge some fresh data about the from, art and subject of ode.

غزل د عربۍ ژبې ټکے دے چې لغوي معنٰی ئې ښځو سره خبرې کول يا د ښځو خبرې کول دي او د ښځو د حُسن و جمال تعريف کول ئې خاصه ده . خو دا خبره اوس ډېره فرسوده برېښي ځکه چې دلته د دې دور د دريو شاعرانو درې شعرونه پېش کوم او لۀ هغې ځنې د روحِ عصر په اساس دا قضاوت خپلو لوستونکيو ته پرېږدم. چې غزل د کومو کومو توکو متقاضي دے.

سيف الرحمان سليم وائي:

"ســــليمه ســـم دې کـــړه غـــزل شـــرعې تـــه
لـــرې پکښـــې ذکـــر د خپـــل قـــام کـــوه"1

* Principal Government Degree College Yaar Hussain Swabi

د اندېش صيب شعر دے چې:

"اوس به د وخت د زړۀ خبرې کوي
ملګرو مونږ د کار سره کړو غزل"2

او ډاکټر محمد اعظم اعظم وئيلي دي چې:

"غم د يار مو د روزګار غېږې له يوړو
مونږ بدل کړۀ د غزل روايتونه"3

اوس کۀ د دغه شعرونو په تناظر کښې تنني يا اوسني غزل ته ګورو نو ډېر زيات بدلونونه او توپيرونه پکښې راغلي دي. کوم غزل کښې چې د ګل او بلبل، شونډو، زلفو، رخسارونو او قامتونو قيامتونو، هجر او وصال تذکرې وي. هغه دې په نوي رنګ کښې رنګ وي. هغه دې هم د کار خبرې کوي. هم دې د يار د غېږې نه د روزګار غېږې پله په تګ مجبوره وي ځکه چې خپله خېټه څۀ چې د خپلو ماشومانو نسونه هم ډوډۍ غواړي. زما په خيال کۀ شاعر ته د چايو په پيالۍ کښې يو وېښتۀ پرېوځي نو ايشته (اخوا) به ئې ارتاؤ کړي نو بيا د زلفو د دومره تذکرو معنٰی څۀ؟ بيا کۀ د سليم صاحب شعر ته ځير شو نو کۀ د قام خاورې او خپل ژوندي ثقافت ذکر پکښې نۀ کوو نو داسې غزل به څۀ د کار وي. چې نۀ داولس په ښه راځي او نۀ پرې د شاعر د شاعرۍ ترجماني کېږي. تننے غزل د خپل چاپېرچل د ټولنيزو حالاتو عکاس دے.

"نۀ سپرلے شو نۀ ګلونه، نۀ وړمې شوې ګُلشن اور شو
د حالاتو تقاضه ده، چې مې رنګ د غزل نور شو"4

د ايوب خان د مارشل لاء زمانه کښې قلندر مومند وئيلي وو چې:

"ياره! قلندر ته دعاګانې کړه
اوس ګنې پښتو کښې غزل چرته دے؟"5

او دا داسې دور وؤ چې يو پښتون شاعر، اديب هم د پښتو، پښتونولۍ او پښتونستان نامه نۀ شوه اخستې او په هر قسمه وئيلو ليکلو پابندي وه نو قلندر مومند د خپلې سرزورۍ او ترقي پسندۍ نه مجبوره دغه ناره اوچته کړه چې حمزه صاحب او د هغوي شاګردانو مريدانو وغېره ترې غلط تاثر واخستو چې ګنړه دغه شعر قلندر صاحب د حمزه صاحب په مخالفت کښې وئيلے دے ځکه نو حمزه صاحب ئې جواب کښې ووئيل چې:

"لاخـــو تخيـــل د حمـــزه تـــت نـــۀ دے
چـــا وې چـــې پښـــتو کښـــې غـــزل چرتـــه دے"6

بل خوا عبدالرحيم مجذوب ووئيل چې:

"وائـــي قلنـــدر چـــې غـــزل چېرتـــه ده؟
ښـــه وايـــي، مجـــذوب تـــه غـــزل پـــاتې ده"7

په هر حال دا يو ځان له اوږد باب دے چې دا وخت او موقع و محل پرې د بحث نۀ دے، ما پرې د خپلې پي – ايچ – ډي مقاله کښې تفصيلي بحث کړے دے هلته دې وځيرلے شي.

غزل په تعريف کښې به دا خبره هم کېده چې غزل د غزال/(هوسۍ) د رم (منډې) او آهونو او زاريو نه وتلے تکے دے چې شاعر يا عاشق هم پکښې د ښکاري سپيو نه د تښتېدونکې هوسۍ په رنګ آهونه او زارۍ او رنګ رنګ فريادونه کوي او له دغه زاريو او زوېرګيو نه شعرونه جوړېږي بلکې دلته به د رحمان بابا دا بيت را په ياد کړو چې:

"دا دســــتور دے چـــې لـــۀ درده زوېـــږګے خېـــږي
ګنهـــه خـــۀ وو د رحمــــــان لـــــه شـــاعري" 8

فېروز اللغات کښې د غزل په حقله ليکلي دي چې:

غزل په "اصطلاح کښې د نظم يو داسې صنف دے چې د عشق و محبت تذکرې پکښې کېږي. د غزل هر شعر جدا مضمون لري. يوه مطلع او بله مقطع لري. د مطلعې نه پس ته شعر وړومبے او د مقطعې نه مخکښې شعر د غزل اخري شعر وي. د مطلعې دواړو شعرونو او نورو بېتونو يا شعرونو وروستۍ مصرعې هم صوت يا هم آواز لفظونه "قافيه" بللے شي. لکه سحر، خبر، نظر وغېره او د هرې مصرعې اخر ته بيا بيا تکرارېدونکي لفظونه رديف وي. غزل لوستونکي ته غزل خوان، ترنم سره غزل ويونکي ته غزل سرا، غزل ليکونکي ته غزل نګار او د غزل ليکلو فن ته غزل نګاري وائي". (فېروز اللعات اردو جديد، ۴۹۲ مخ)

مطلع د غزل يا قصيدې د سر شعر ته وائي چې دواړه مصرعې ئې خپلو کښې سره هم وزنه، هم قافيه او هم رديف وي. د مثال په توګه د خوشحال بابا د غزل دا مطلع چې:

"تُــوره چـــې تېرېـــږي خـــو ګـــوزار لـــره کنـــه
زلفـــې چـــې ولـــول شـــي خـــو خپـــل يـــار لـــره کنـــه" 9

مقطع د غزل يا قصيدې وروستي شعر ته وائي چې شاعر يکښې خپل نوم يا تخلص راوړي لکه د خوشحال بابا د هم دغه غزل دا مقطع:

" مې شته، چنګ وني شته دخپل يار سره خوشحاله
خپل بياض په لاس کښې ورځه ګلزار لره کنه"10

د محمدي صاحبزاده په ديوان کښې ډېر داسې غزلونه شته چې قلندر مومند ورته په حاشيه ليکلي دي چې :

" د مقطعې او وروستي شعر تر منځه د يو شعر ځائے په اصل نسخه کښې خالي دے."11

د مطلع او مقطع د لفظونو او نومونو د معنيو نه واضحه شوه چې د مطلعې نه پس شعر ته اول د مقطعې نه وړاندې شعر ته اخري شعر وئيل درست دي.

د غزل د شعرونو د شمېر په حقله دمختلفو ليکونکيو مختلفې رائې دي. خوشحال بابا په "دستار نامه" کښې د "څلورم هنر د شعر د نظم" تر عنوانه ليکلې دي.

"غزل تر پينځۀ بېت ورپه هسې څورالس پورې، هر چې وي پکښې تعريف د معشوقې د خط و خال د ګل، ګلزار، درد، فراق، سوز و ګداز له دې حاله په کښې وايه شي."
(خوشحال خان خټک، دستار نامه)

اختر انصاري ليکي چې :

"غزل کښې دې کم نه کم پينځۀ او زيات نه زيات وولس شعرونه وي."

"د غزل شعرونه د شمېر په لحاظ طاق پکار دي. جفت نه، د کوم غزل د شعرونو شمېر چې جفت وي نو دا به د غزل خامي ګڼلے شي. د طاق شرط د دې وجې نه دے چې د غزل په بنيادي مفروضو کښې يوه مفروضه دا ده چې د

شاعر محبوب يکتا او بې مثاله وي چې په دنيا کښې ئې
ثاني ممکن نۀ وي ځکه نو د غزل شعرونه هم طاق پکار
دي او بيا دا چې تر محبوبه رسېدل او په عشق کښې
کاميابي حاصلؤل يو ناشونے کار دے. ځکه نو په غزل
کښې د هجران او بېلتانۀ مضامين راځي او د طاق دا
مناسب هم د هجر (له جانانه د جدايۍ، تنهائۍ او يوائې
وايي) سره دے."12

هم دغه رنګ پروفېسر انور جمال خپل تاليف "ادبي اصطلاحات" کښې د غزل په حقله ليکي چې:

"غزل مقبول ترین صنف شاعری ہے۔ غزل، شاعر کا وہ پیکر حسن ہے۔ جس میں پانچ یا زیادہ اشعار ہوتے ہیں، رمز، ایمائیت، شوز گداز، موسیقیت اور ایجاز اس کے کیفیتی (باطنی) خواص ہیں۔ وارداتِ حسن و عشق، کربِ ذات کا بیان، غم دوران کا تذکرہ اس کے موضوعات ہیں۔ پہلے شعر (مطلع) کے ہر دو مصرعوں میں ردیف و قافیے کا الزام اور ہر شعر کے مصرعے ثانی میں مطلع کے ردیف قافیے کی پابندی اس کے خارجی اور ہیئتی اصول ہیں۔ اردو اور فارسی کے علاوہ دنیا کے کسی شعری ادب میں غزل کی ہیئت موجود نہیں۔ انگریزی میں جو نظم باطنی طور پر غزل کے قریب ہے۔ وہ Lyric ہے، قیس رازی نے المعجم میں عزل کے سلسلے میں کلب و غزال (کتے اور ہرن) کی جو تمثیل بیان کی ہے، اس سے اندازہ ہوتا ہے، کہ لفظ غزل غزل سے ہی نکلا ہو گا۔ عربی قصیدے کو اولین حصہ تشبیب فارسی میں قصیدے سے الگ ہو کر غزل کے روپ میں جلوہ نما ہو اور اردو ادب کے دامن بہار میں گلریزی کرے گا۔ اردو میں غزل واحد صنفِ سخن ہے، جو غم جانان، غم ذات اور غم دوراں کو تخلیقی اظہار دینے کی صلاحیت رکھتی ہے"13

دغه اقتباس کښې نورې خبرې کۀ څۀ هم سمې برېښي ولې دې خبرې سره اتفاق نۀ شي کېدے چې غزل فقط په فارسۍ يا په اردو کښې دے بلکې

په نورو مشرقي ژبو کښې هم غزل ډېر په ازاد مټ ليکلے شي او ډېر ښۀ ليکلے شي.

خو مسئله دا ده چې متقدمينو خو دا قاعده خپله کړې ده ولې متاخرينو ئې کله خاص خيال نۀ دے ساتلے. د اوسنيو شاعرانو ډېر داسې غزلونه شته چې د شعرونو شمېر ئې د طاق په ځائے جفت وي، دا نۀ دي پکار. متقدمينو به اکثر د غزل يوه مطلع وئيله خو د دوؤ مطلعو مثالونه پکښې هم ډېر موندے شي. د مثال په توګه د رحمان بابا د يوه غزل دا دوه مطلعې:

"ستا د تورو سترګو په ياداشت مې سترګې وورې
حق دي چې پرېوځي په شبرات د عمر ستورې
زلفې دې سايه کړې مخ دې اور رابانـدې وورې
اور دے کۀ وريځ ده نۀ پوهېږمه په سيورې"14

او دا چې:

"په تلخۍ د ميو هر څوک مېخوار نۀ دے
هغه خار چې بوي د ګل لري خار نۀ دے
هر نګار چې بې وفا وي نګار نۀ دے
په ګلزار کښې ګل نۀ وي ګلزار نۀ دے"15

دغه رنګ په لرغونې شاعرۍ کښې د غزل د دوو مقطعو رواج هم ډېر کم دے خود خوشحال بابا، رحمان بابا، حميد بابا ډېر داسې غزلونه شته چې دوه دوه مقطعې لري. مثلاً د رحمان بابا د يو غزل دا دوه مقطعې:

"طفلان هم په يو دوه کاله سخندان شي
رحمان زوړ شه ولې نۀ شۀ سُخندان

چـــې لـــۀ دره ئـــې شـــړے ګنـــاه ئـــې کـــوم دے
ډېــر دے ســـتا پـــه مـــخ مئـــین عبـــد الرحمان"16

او یا دا چې:

"د کاغـــذ پـــه کشـــتۍ ســـېر کـــوے رحمانـــه!
دا کشـــتۍ بـــه دې مـــرګے کانـــدې غرقابـــه
پـــه ازار د چـــا راضـــي مـــۀ شـــه رحمانـــه!
کـــه خلاصـــے پـــه قیامـــت غـــواړې لـــه غذابـــه"17

په اوسنیو شاعرانو کښې د دوو یا د دوو نه زیاتو مطلعو او مقطعو مثالونه کثرت سره په نظر راځي. د مثال په توګه د حمزه شنواري د یو غزل دا دوه مطلعې:

"خپـــل هـــوس ئـــې د فنـــا د مـــېچن پـــل شـــو
چـــا چـــې عشـــق د غـــنم رنګـــو کـــاوۀ دل شـــو
جمعیـــــت د پرېشـــــانۍ نـــــه مکمـــــل شـــــو
چـــې چیســـتان د یـــار د زلفـــو راتـــه حـــل شـــو"18

د قلندر مومند د یوۀ غزل دا دوه مطلعې:

"څـــۀ لـــه غُـــر مشـــکو لـــۀ غوېمـــو ډکـــه ده
ځـــواني د اور لـــۀ غـــر غـــرو ډکـــه ده
خېـــر دے کـــۀ لاره د ازغـــو ډکـــه ده
زمـــا ســـینه هـــم لـــۀ پولـــو ډکـــه ده"19

د دوؤ مقطعو مثالونه:

"حمـــزه خپـــل کـــور درتـــه پـــر دے ښـــکاري
وخـــت د لېمـــو د غړېـــدو نشـــته

حمـــــزه ملـــــت کښـــــې دې ځـــــواني ؤشــــينده
لا ورځــــــې، شـــــپې د زړېـــــدو نشـــــته“20

او د خان بهادر حسرت د يو غزل دا دوه مقطعې:

”ســتا يـــو حســرت د دې بـــې قـــدره زمـــانې د لاســه
د ســـوو لـــوو حســـرتونو پـــه دار ؤځنګېـــده
غـــه چـــې د مينـــې د ښــکلا د کلـــي خـــان وؤ چـــرې
هغـــه حســـرت د تومتونـــو پـــه دار ؤځنګېـــده“21

ځينو متقدمينو شاعرانو په بې نقطو عزلونو کښې خپل تخلصونه يا نومونه هم د ابجدو په حساب ليکلې وي چې دا پته ترې لګي چې د دې حدوفونو د شاعر نامه جوړيږي . لکه د علي خان په ديوان کښې د يو بې لفظ غزل دا مقطع چې د معمې په طور ئې وئيلي ده او لکه چې د لوستونکيو ذهني امتحان اخلي:

”معمـــــــه مـــــــې ده اووه ســــــوه د اســــــم
لا هـــــم کـــــم د ے کـــــه دوه واره ورلـــــه لام لاړ“22

سيد تقويم الحق کاکاخېل د علي خان ديوان په مقدمه کښې له دغه معمې دعلي خان نامه استخراج کړې ه او دا حاشيه ئې پرې ليکلې ده چې :

په چاپ شوې نسخه د مولوي عبدالاسلام صاحب کښې " لا يو کم د ے کۀ دوه واره ورله لام لاړ" ليکن دا غزل ټول بې نقطه د ے او د دې وجهې علي خان په مقطع کښې هم خپل نوم نۀ د ے اخستے. په قلمي نسخه کښې "لا هم کم د ے کۀ دوه واره ورله لام لاړ" او دا صحيح د ے. د علي خان نوم د ابجدو په حساب اووۀ سوه او يو شپېتۀ د ے. لام په ابجدو کښې د ېرش د ے نو دوه ځله لام چې ورسره شي نو اوۀ سوه او شپېتۀ شي. د اصل عدد

نه یو کم دے چې "هم کم دے" کښې ورته اشاره ده ځکه چې د "یو" په لفظ کښې نقطې دي او نقطې په دې غزل کښې نۀ راوړي.
یا د یونس په کلام کښې د ابجدو په حساب اګر که بې نقطو عزل نۀ دے خو د معمې په طور ئې خپله نامه د مقطعې په طور راوړې ده چې:

"ځــو چـــې نـــیم لـــب ئـــې نمـــک اخســـتے نـــۀ وي
د یـــــونس نمکـــــې اســـم پـــرې حـــرام شـــۀ"23

ځنې شاعرانو عزل کښې د تجربې کولو په غرض خپل نوم یا تخلص هم د ردیف په طور راوړے دے. چې معنوي طور هم درست دے او د ردیف په طور هم. د مثال په طور د سعید ګوهر صاحب د یو غزل دا دوه بېتونه چې ردیف کښې ئې تخلص استعمال شوے دے:

"خـــوارۀ یـــاران، تراخـــۀ وختونـــه مـــې پـــه یـــاد ګـــوهره!
زۀ چـــې پـــه ډېـــر مینـــه بانـــدې وم ابـــاد ګـــوهره

ارشـــاد ګـــوهره! ســـتا کمـــال ســـتا پـــه کـــلام کښـــې ثابـــت
پښـــتونخوا ټولـــه درتـــه یـــو غـــوړ ده ارشـــاد ګـــوهره"24

زمونږ متقدمینو کښې خوشحال خان خټک، عبدالقادر خان خټک او محمد نواز خان خټک وغېره د خپلو غزلونو یا کلامونو تاریچو نه د ابجدو په حساب وئیلي دي کۀ ځینو هغو شاعرانو هم دا طریقه خپله کړې ده د چا د ژوند حالات چې په تیارۀ کښې دي نو غوره به وي. چې کۀ د پېدائش او وفات تاریخونه ئې معدوم دي نو د ژوند زمانه خو ئې ترې متعینه کېدې شوه. د مثال په طور د خوشحال بابا ژبو قصیدې دا تاریخي بېت وځیرئ:

"دا بیــــان مـــــې د "غعـــــد" پــــه کـــــال وئـــــیلے
پــه شــعبان چــې د لاهــور پــه ســیند عبــور کــړم"25

نو د خوشحال بابا له دغه کلامه د "غعد" کال د ابجدو په حساب ۱۰۷۴هـ د شعبان میاشت پته لګي چې د ے ئې هندوستان لره بندیوان روان کړ ے وۀ.

زمونږ اوسني اکثر شاعران د غزلونو لاندې تاریخونه او هغه ځایونه لیکي چرته چې ئے دغه غزلونه لیکلي دي. یا خپلې مجموعې تاریخ وارې چاپ کوي. نو دې سره دوه فائدې کېږي. یوه دا چې د لیکلو تاریخ او ځائے معلوم شي بله دا چې د شاعر د فکري او فني ارتقاء نخښه پته ترې لګي. چې څومره وخت کښې ئې څومره ترقي کړې ده؟ کوم شاعران چې د غزلونو سره تاریخونه او مقامونه نۀ لیکي هغوي ته به خواست وکړو چې دا کار د فائدې نه خالي نۀ د ے.

ځینو شاعرانو د غزل په مطلع کښې خپل نوم یا تخلص هم ځائے کړ ے د ے. په لرغوني شاعرۍ کښې هم دا روایت په لاس راځي ولې اوسنیو شاعرانو دا بدعت حسنه هم په ډېر کثرت سره کړ ے د ے چې د هغوي د قادر الکلامۍ اندازه ترې لګېد ے شي. خو د غزل د مطلعې د روایت تر مخه به دې ته مقطع نۀ وایو. د مثال په توګه :

"نـــن د قلنـــدر چـــې د نمـــرور ســـره تکـــرار د ے
خــود د بــراهیم پــه شــانې خــوښ پــه سُــور انګــار ے"26

یا دا چې :

"قلنــــــدره چــــــې دې زلفــــــې خوښــــــېدلې
ځــــولنۍ دې پــــه قســــمت وې شــــرنګېدلې"27

داسې غزلونه چې مقطع نۀ لري په کلاسيکي شاعرۍ کښې ډېر کم ليدے شي خصوصاً چې مونږ د پښتو ادب د دوؤ سترو بابا ګانو او زبرګانو شاعرانو خوشحال بابا او رحمان بابا مطالعه ؤکړو نو مونږ ته به اندازه ؤشي جديد شاعران دې خبرې له څۀ خاص اهميت نۀ ورکوي چې د غزل د جوړو شويو اصولو خلاف دي. اوسنيو شاعرانو کښې يواځې قلندر مومند داسې شاعر دے چې د دې خبرې خاص خيال ئې ساتلے دے. په "سباوون" کښې ئې هر هغه غزل ته "نامکمل" ليکلې دي چې مقطع نۀ لري. غالباً چې هغه هم د متقدمينو په تتبع کښې دا اُصول خپل کړي وي. اوس سوال دا راپېدا کېږي چې مونږ دې د متقدمينو پېروي ؤکړو کۀ د هغوي د جوړو کړيو اُصولو نه دې چوټ انکاري شو؟ زما په خيال چې زمونږ دا به د متقدمينو تضحيک، توهين او د هغوي روح ته د ايذاء رسؤلو مترادف خبره وي نو پکار دي چې هغوي کوم اُصول ټاکلي وي مونږ ئې خپل کړو او احترام ئې وکړو.

د متقدمينو د غزل د اصولو تر مخه د غزل دوه قسمونه دي.

1. مسلسل غزل چې د مطلعې نه تر مقطعې ئې موضوع يوه وي.
2. غېر مسلسل غزل چې مطلع او مقطع او نوربېتونه ئې ځان له يوه اکائي (واحد) وي).

د هر دواړو قسمونو لړ کښې دغه خبرې داسې هم کېدے شي چې:

1. مسلسل غزل هاغه وي چې شعرونه ئې خپلو کښې سره د خيال، موضوع او مواد و مطابق مربوط او يو بل سره تړلې وي. او په يو لحاظ نظم ته نزدې وې داسې غزل ته غزل نما نظم يا نظم نما غزل هم وئيلے شي. " ( وګورئ د قلندر مومند سباوون کښې "خطره" نومې نظم چې د غزل په

هېئت کښې ليکلے شوے دے او د عنوان نه لاندې ورته (يو غزل نما نظم يا نظم نما غزل) ليکلې شوي دي. (مخ **۳۵**)

2. "غېر مسلسل غزل هاغه وي چې هر شعر ئې يوه ځانله اکائي وي. د موضوع او موادو په لحاظ پکښې څۀ ربط، ترتيب او هم اهنګي نۀ وي. د مفهوم او معنٰی پوره کېدو د پاره د يو بل متحاج نۀ وي. ولې د وزن، بحر، قافيې او رديف لۀ کبله پکښې د تاثر وحدت ضرور موجود وي. "

او د دې هر دواړه قسمونو نه د لرغوني شاعرانو دواوين ډک او بر جق دي.

د غزل د پاره د موضوع څۀ قېد نشته. هر قسمه خيالات پکښې ځائېدے شي. کۀ مونږ د غزل د تاريخ مطالعه وکړو نو واضحه به شي چې دا لوښے څومره فراخه دے او څنګه ئې مختلفو مضامينو او موضوعاتو له په خپله لمن کښې ځاې ورکړے دے. د غزل هر شعر يو جدا حېثيت لري او نورو شعرونو سره ئې څۀ تعلق نۀ وي. کۀ په يو شعر کښې د هجران او فراق خبرې وي. نو بل کښې به د وصال، کۀ په يو شعر کښې د خوشحالۍ، سوکالۍ او راحت خبره شوې وي، نو بل کښې به د غم درد او مصيبت تذکره وي. غرض دا چې په هر شعر کښې ځانله ادراک، احساس او انساني تجربه موجوده وي. د غزل متنوع شعرونه لوستونکي بې لۀ اثره نۀ پرېږدي. لۀ دې علاوه غزل کښې ايجاز و اختصار، ايمائيت، داخليت، تشبيهات، استعارات او امروزه محاوره د غزل رخت و زېور دي. چونکې غزل د لفظ او معنٰی له اعتباره د ښکلي او لطيف امتزاج نامه ده ځکه ئې ريښتيني، نغمګي او موسيقيت د اعلی ظرفۍ ثبونونه دي. هر شعر ئې د يوې تراشلې هيرې په څير وي نو ځکه د هر شاعر د

وئيلو د وس کار نۀ دے. مطلب دا چې څومره اسان ښکاري هومره ګران او پيچيده دے.

په دې حقله به د ستر خوشحال بابا دا شعرونه را په ياد کړو چې :

"شـــعر کـــار د هـــر فاســـق د فـــاجر نـــۀ دے
نـــۀ د هـــر يـــوۀ وړ ســـترګي د کنګـــال
شـــعر کـــار يـــا د ســـالک يـــا د مالـــک دے
د عاشـــــق دے د دردمنـــــد دے د ابـــــدال"28

دغه رنګ چې خوشحال بابا د خپل کلام (شاعرۍ) ستائينه کوي نو د غزل او رباعۍ مذکور خامخا کوي.

"پـــه تعريـــــف د دلبرانـــــو غزلونـــــه
پـــه صـــفت د ســـترګو وروځـــو زلفـــو خـــال"29

او

"پـــه غـــزل پـــه ربـــاعي مـــې زړۀ مئـــين دے
چـــې مـــداح يـــم د دلبـــرو د جمـــال"30

پښتو شاعرۍ ته کۀ ځانګړے او منفرده تحفه څۀ کېدے شي نو هغې له مونږ د غزل نامه ورکولے شو. په نثر کښې چې څومره ګران صنف د افسانې ګڼلے شي. بيخي دغه مثال په شاعرۍ کښې د غزل دے. اګرچې دا تحفه پښتو ته لۀ فارسۍ او فارسۍ ته د عربۍ (د قصيدې د تشبيب) نه تر لاسه شوې ده خو د بيان د نُدرت او د اسلوب (ليک شان) د نزاکت لۀ سببه کۀ پښتو غزل د دغې ژبو نه وړاندې نۀ دے نو وروستو هم نۀ دے پاتې. څۀ ته چې غزل وائي حقيقت کښې د کمو نه کمو لفظونو نه د زياتو نه زياتو معنيو راولاړولو فن دے او دا فن د بل يو صنف سُخن په برخه هم نۀ دے رسېدلے. په دې اساس مونږ په ځائے وئيلي شو چې غزل محض يو

صنفِ سُخن نهٔ بلکې معیارِ سُخن دے. د غزل په جام کښې چې کوم شراب دي د هغې نشه یو په دوه نهٔ بلکې یو په څلور ده. د غزل هر شعر په ذهن لکه د یو تصویر نقش کېږي.

خبره کهٔ د فکر وي کهٔ د جذبې، د تصوف وي کهٔ د حکمت، فلسفې او د رومانیت، روایت وي کهٔ د زړو اقدارو نه بغاوت د غمِ جان او جانان وي که د غمِ دوران خو غزل همېشه په اشارو کنایو کښې خپله مدعا بیان کړې ده او بیانوي ئې. زمونږ په کلاسیکي غزل کښې د حُسن و عشق، تصوف او اخلاقیاتو مضامین څرګند دي. هم دا مضمونونه د غزل روایت دے. چې لهٔ بیانه ئې غزل لطافت، خوږوالے او د احساساتو وسعتونو دوام موندلے دے. د غزل دا روایات هم د عشقیه مضامینو یو کُلي روایت دے. نوے غزل چې د روایتي لړمانهٔ نه زېږېدلے دے. د بې قرارۍ، بې یقینۍ او د ذاتي اذیت څنې نوي موضوعات او مضامین را برڅېره کړي دي. نوې مسئلې، ذهني او نفسیاتي پرېشانۍ، سیاسي حالات، واقعات، رخنه ګري چې څنې خلق ورته ترهه ګري او دهشت ګردي هم وائي دا هر څهٔ اوس د غزل په لمنه کښې را یو ځائے شوي دي خو د غزل نزاکتونه د حُسن پرستۍ د رمزیت او عشق آفرینۍ په وجه قائم دي.

د ښاغلي احمد حسن حسرت دا شعر زما د دې خبرې ثبوت لره کافي دے چې:

”درز شــو پورتـــه، د بـــازار پـــه ســـتنو ځـــانګي
دا شـــــړې د ســــوات، څپلــــې د هشـــــنغر دي“31

کۀ دغه شعر ته ځير شو نو ډېر څۀ به پکښې راته په وينو وينو سترګو سرۀ او رنګين ؤښکاري.

عشق په هر دور کښې د غزل يوه بنيادي موضوع پاتې شوې ده خو د ژوند نورې لاتجې کونجې وړاندې کول هم د غزل يو روايت دے. د آدم نه تر دې دمه د عشقيه معاملاتو سره سره په مختلفو دورونو کښې د سياسياتو، سماجياتو او تهذيبي مسئلو ترجماني هم په غزل کښې شوې ده . غزل په يو داسې روايتي چوکاټ کښې فټ شوے دے. کۀ چرې د دې چوکاټ نه ؤوېستے شي نو غزل به غزل پاتې نۀ شي. څۀ بل څۀ مبهم شکل به ترې جوړ شي.

اوس يوه ګرانه دا راپېښه ده چې د غزل روايت کومو لفظونو تشبهياتو، استعاراتو او اصطلاحاتو سره تړلے وۀ، آيا د هغې په مخ د زمانې ګرډونه پرېوتي دي او کۀ مونږ نوي لفظونه او استعارې او اصطلاحات لا د روايت په توګه نۀ دي پېژندلي؟

غزل کښې رمزيت او ايمائيت وړاندې هم وو او اوس هم شته ولې اوس ئې نازکه رغاونه دومره همه ګيره ده چې د ژوندانۀ کُلهمې مسئلې، معاملې او کشالې او هغه هر څۀ پکښې را يو ځائے شوي دي. څۀ چې د نننې دوَر تقاضه او خاصه ده. دلته به يو وارې بيا خپل لوستونکي د دې مقالې تمهيد پله متوجه کړم چې بيائې په غور ؤلولي او د سليم، اندېش او اعظم (مرحومينو) د شعرونو په تناظر کښې ئې تجزيه ؤکړي.

د جديد غزل رجحانات دومره واضح دي چې د نن غزل ئې پوره په جوبن کړے دے. دې ته کۀ د غزل ارتقاء ؤوايو نو يقيناً چې د غزل تخليقي ارتقائي مرحلې د تکميل مرحلې ته رسېدلې دي.

ادب د ژوندانۀ د تجربو د تسلسل نامه ده او مونږ وینو بلکې په ډېر شدت سره دا محسوسوو چې غزل د ابتداء نه تر اوسه وخت په وخت په خپل مزاج کښې ډېر بدلون راوستے دے.

د مجنون ګورکهپوري په قول (ترجمه):

"د غزل ترکیب څۀ دا رنګې واقع شوے دے چې هر شعر ئې د سالم او پوره تصور اظهار کولے شي. د غزل په شعرونو کښې د ژوند مختلف نظریات او اصول مرتب کېدے شي چې یو بل سره تړلے نۀ وي یعنې د مضمون او اسلوب دواړو لۀ اعتباره غزل کښې د لامحدود تنوع امکان دے."

(په حواله د اردو اصناف کي مختصر تاریخ مرتبه عطش دراني)

اردو دان نقاد سید عابد علي عابد چې د غزل نګارۍ د پاره کوم پینځۀ اُصول ټاکلي دي، تاسو ئې هم ؤلولئ:

1. غزل کو اصلاً ناز و نیاز کی کیفیات اور حُسن و عشق کی واردات سے مربوط ہونا چاہیے۔
2. زبان جہاں تک ہو سکے نرم و شیرین اور بیان دلکش و دل پذیر ہونا چاہیے۔
3. غزل کو ابتذال اور چھچھورپن سے پاک ہونا چاہیے۔
4. محبوب سے خطاب کا انداز و اسلوب نیاز مندانہ ہونا چاہیے۔(شاعرانہ تعلی اس سے مستثنٰی ہے)۔
5. جہاں تک ہو سکے محسناتِ کلام سے احتراز کرنا چاہیے تا کہ بات پیچ دار نہ ہو جائے اور توجہ اصل مقصد سے ہٹ کر صنایع و بدایع لفظی و معنوی پر مرکوز نہ ہو جائے۔(تاہم صنائع بدائع کی دقیق صورتیں غزل ہی میں ملتی ہیں۔)

دې اصولو سره سره کۀ د روایت اصول هم په نظر کښې ؤ ساتلے شي چې وړاندې ئې ذکر وشو نو مونږ به د غزل اسلوب په ښۀ طریقه بیانولے شو

ولې چې غزل کښې د حُسن و عشق د خبرو سره سره تصوفي او اخلاقي مضامين هم بيان شوې دي او د جانان د غم سره د روزګار غم هم شامل کړے شوے دے.

د دې بحث نه څرګنده شوه چې غزل کومې پېمانې، مضامينو يا اساليبو پورې نۀ دے محدود. په قول د سيد عابد علي عابد: (ترجمه)

"په غزل کښې صرف يو څيز دے او هغه دے دغزل موډ چې مونږ ورته وحدتِ تاثر وئيلے شو. (لکه چې مخکښې کرښنو کښې ورته اشاره شوې ده. دا موډ، وحدت تاثر يا حالت چې کۀ د تغزل رنګ نامه ورکوو يا د غزل د مزاج د غزل د تعريف په حواله خو دا د غزل بنياد دے."

د غزل د تعريف په حواله دا ټولې خبرې يو خوا او بل پله خاص د پښتو غزل د پاره د "اولسي ادبي جرګې" د پښتنو نقادانو، عالمانو، شاعرانو، اديبانو او دانشورانو دا رائې ډېره مستنده برېښي او پکار دي چې پښتانۀ شاعران ئې هم د ذهن په تختۍ ؤليکي چې:

"غزل: د متقدمينو په اصطلاح کښې د شاعرۍ هغه صنف ته وائي چې بنيادي طور د عشق د جذبې لاندې ليکلے شوي وي. هر شعر ئې د تخيل په لحاظ واحده وي. مطلع او مقطع لري او شعرونه ئې طاق وي او دې د پاره دا لوازمات ځکه ضروري دي چې مونږ غزل د فارسۍ نه سره د ټولو روايتونو خپل کړے دے. د موسيقيت تر مخه غزل د طاقو شعرونو پکار دے او داخليت د غزل حُسن ګڼلے شي. د غزل مقطع کښې د شاعر نوم او تخلص دا داخليت زياتوي. د غزل بنيادي موضوع عشق ده خو عشق يواځې هغه نۀ چې يو تن سره کولے شي بلکې هر چا سره او هر څۀ سره د مطلقې مينې انتهائي شکل لري او د دغه جذبې لاندې څيز ته غزل وئيلے شي.

په غزل کښې نۀ صرف داخليت بلکې د جذباتو شدت، ايمائيت او اسلوب هم د غزل خصوصيات دي. د غزل ژبه ساده، لطيفه او رنګينه پکار ده خو د هغه لطيف او کثيف کړي. لفظونه په خپله نه لطيف وي.
غزل نۀ بدله ده او نۀ سندره ځکه چې بدله د مثنوي بدل شوے شکل ته وائي د اولس د شاعرانو د غزل په هيئت کښې "بدلې" هم ليکلې دي) او د برې پښتونخوا اصطلاح کښې بدله د سندرې په معنٰی مستعمله ده. د خوشحال بابا هم خپله شاعرۍ کښې کۀ ټپې، چاربېتې نۀ دي يادې کړې (حالانکې کۀ کليات ئې په ژور نظر وګورو نو د چاربېتې ډېر بحرونه به پکښې ووينو) خو بدلې او سندرې ئې د ستائينو په معنٰی ياد کړې دي لکه دا بېتونه ئې وځېرئ چې:

کـــل ګټنـــه ده د تـــورې　　کـۀ کابـل دے کـۀ کشـمير
مېړنـــي دي چـــې يـــاديږي　　پـــه ســـندرو هـــم پـــه ويـــر

"د غزل مطلع او مقطع اوچته پکار ده. غزل کښې شعريت او تغزل پکار دے او د ماحول عکاسي پکښې حُسن پيدا کوي. کوم غزل کښې چې مطلع او مقطع نۀ وي هغه به قطعه بللے شي ځکه چې قطع (پرېکړې) شوې وي. وزن او بحر کښې به ئې فرق نۀ وي."32

ډېرو مستندو ليکونکيو پکښې د غزل تعريفونه .....مختلف کړي دي. خو چا هم دا تکليف نۀ دے کړے چې د غزل د تعريف سره سره ئې د غزل تعارف يعنې پېژندګلو هم کړې وې. د جرګې په روداد کښې د غزل دا تعريف او تعارف د لوستو سره تعلق لري چې روداد ئې قلندر مومند ليکلے دے.

"چې غزل یوه مطلع لري چې دواړه مصرعې ئې خپلو کښې سره هم وزنه هم قافيه او هم رديف وي. مطالعې پسې شعر ته د غزل وړومبے شعر وائي. د نورو شعرونو يا بېتونو وروستنۍ مصرعې ئې د مطلعې هم وزنه هم قافيه او هم رديف وي. د مقطعې نه مخکښې شعر د غزل اخري شعر وي. يوه مقطع لري چې شاعر پکښې خپل نوم يا تخلص راوړي. د مطلعې يا مقطعې نه بغېر غزل نيمګړے وي. د غزل شعرونه طاق وي. لکه پينځه، اووهٔ، نهه، يولس، ديارلس، پينځلس او اوولس. د غزل هر شعر ځانله واحده وي. يعنې د نورو شعرونو سره ئې د خيال ربط نهٔ وي. خو د ټول غزل وحدتِ تاثر ضرور وي. د وحدتِ تاثر نه مراد موډ هم دے او د قافيو او رديف تکرار هم."[33]

د ښاغلي رومان ساغر ليکنه "د پښتو د غزل يکسانيت" د دې ګڼې يوه داسې موضوع ده چې د تصور نه هم پرې زيات ليکل کېدے شو. ولې ښاغلي ساغر خپل ليک سره بېخي انصاف نهٔ دے کړے او اخر ته ئې چې د غزل نه د يکسانيت د لرې کولو د پاره کوم پېش نهادونه وړاندې کړي دي هغه ډېر نا معقوله او غېر ضروي دي چې د موضوع سره هېڅ مطابقت او سمون نهٔ لري لکه دا چې:

د پښتونخوا د سياسي پارټيو له خوا د پښتو ژبې د ترقۍ او ودې د پاره عملي طور سره کار کؤل.

1. په پښتونخوا کښې پښتو ژبه ابتدائي ذريعه تعليم ګرځول.

2. په ذرائع ابلاغ يعنې رېډيو او ټي وي کښې پښتو ته خپله مناسبه نمائندګي ورکول.
3. د پښتو د ټولنو او انجمنو سر پرستي او حوصله افزائي کول.
4. د بچو د پاره د ادب تخليق کول.
5. د ښځو د پاره د ادب تخليق کول.
6. د شاعرۍ په ځائے نثر ته توجه زياته ورکول.
7. د موجوده عصر هر نوي ادبي صنف ته هر کلے وئيل چې په هغه کښې اوږد نظم، مختصر نظم، معرىٰ نظم، ازاد نظم، نثري نظم او هائيکو شامل دي.34

اوس تاسو د دې پېش نهادونو په حقله د الله د رضا د پاره ؤوائئ چې د غزل د يکسانيت د ختمولو د پاره پکښې کوم اهم مقصدونه پټ دي. زما په خيال کۀ چرې د دې ترجمه په اردو يا انګرېزۍ کښې ؤکړے شي نو د پښتون ليکونکي متعلق به د هغې خلقو څۀ تاثر وي.

# حوالې او حاشيې


1. سليم، سيف الرحمان ، سندريز شفقونه ، افغانستان چاپ
2. اندېش، شمس القمر، پيمانه د غزل، اولسي ادبي ټولنه مردان
3. اعظم، ډاکټر محمد اعظم، جنون او ژوندون ، يونيورسټي پبلشر پېښور، جون ۲۰۰۸ء
4. (حسرت، محمد زبېر، ناچاپ شعري مجموعه
5. قلندر مومند – سباوون ، قامي مکتبه پېښور، ۱۹۷۲.
6. د حمزه بابا کليات ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون
7. د مجذوب کليات اول جلد ، پرمختګ بنو
8. د رحمان بابا کليات، ترتيب ، څېړنه او سمونه: دوست محمد خان کامل مومند/قلندر مومند ، پېښور، د چاپ ځائے ۱۹۸۴ء.
9. کلياتِ خوشحال خان خټک، اول چاپ، دوست محمد خان کامل مومند ،پېښور، اداره اشاعتِ سرحد ، قصه خوانی،
10. همدغه ماخذ.
11. محمدي صاحبزاده ديوان مختلفې صفحې تدوين: قلندر مومند ، د چاپ ځائے کوهاټ روډ پېښور، ۱۹۸۵ء
12. اختر انصاري، غزل اور عزل کی تعليم، مکتبه عاليه لاهور، ۱۹۸۷ء، ۲۵ ، ۲۲ مخونه.
13. انور جمال، پروفېسر، ادبي اصطلاحات ، نېشنل بک فاونډېشن، اسلام اباد ، پاکستان، اشاعتِ سوم جنوري ۲۰۱۲ء، ۱۳۵ مخ.
14. (د رحمان بابا کليات، ۲۵ مخ )
15. (د رحمان بابا کليات ، ۳۳۹ مخ)
16. (د رحمان بابا کليات، ۱۵۴ مخ)
17. (د رحمان بابا کليات، ۱۷۸ مخ)
18. شينواري، امير حمزه خان، غزونې، اول چاپ، ۱۹۵۸، ۴۸ مخ
19. قلندر مومند ، سباوون، مخ ۹۴ .
20. شينواري، امير حمزه خان، غزونې، ۱۰۰ مخ)
21. حسرت خان بهادر ، زما د کلي لېوني بادونه، کابل چاپ، ۱۹۹۰ء مخ ۲۸.
22. ديوان علي خان، مقدمه او حواشي، سيد تقويم الحق کاکا خېل، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، مخ ۸۲.
23. د يونس ديوان، کابل چاپ
24. سعيد ، ګوهر، "په اوبو کښې ترږے"، سکام ادبي اکېډيمي کوټه، ۲۰۱۰ء ، مخ ۷۵.
25. د خوشحال خان خټک کليات، مخ ۵۲۳

26. (قلندر مومند ، سباوون، ۱۰۲ مخ)
27. قلندر مومند ، سباوون، **۹۲** مخ)
28. قلندر مومند ، سباوون، مخ **۵۴۰**
29. همدغه ماخذ
30. همدغه ماخذ ، مخ **۵۴۱**
31. مات کودري، احمد حسن حسرت ،مردان، د ادبي دوستانو مرکه ۲۰۱۰ء
32. حسرت، محمد زبېر، اولسي ادبي جرګه- تحقیق او تنقید" ، ملت اېجوکېشنل پرېس لاهور، د ادبي دوستانو مرکه مردان، ستمبر ۱۹۸۸ء، مخونه ۲۱۱، ۲۱۲.
33. د اولسي ادبي جرګې رودادونه قلمي نسخه، مملوکه د راقم الحروف.
34. رومان شاعر، د پښتو د غزل یکسانیت، میاشتنۍ مجله پښتو ، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي)

# رومانتيسيزم او پښتو ادب

عبدالظاهر شکیب*

**Abstract:**

Romanticism: A global literary movement which rose from France and gave new horizons to literature. It strongly opposed the rules, regulations and all the principles of Classicism. Romanticism promoted new ways of expression. It focused on free and rebellious thoughts. In this article an attempt has made to describe the origin, evolution and some important aspects of Romanticism. It has been also discussed that how this movement spread from France to other European countries and from Europe to Indian sub continent and when it affected Pashto literature.

لنډيز:

په دې لیکنه موږ د رومانیت تحریک په اړه په نړیوالو ادبیاتو کې د رومانتیسیزم د ایجاد او ودې پر پړاوونو د مستندو ماخذونو په مرسته بحثونه کړي او د بېلابېلو پوهانو نظریات مو راخیستي دي او دا مو روښانه کړې چې دغه تحریک له کوم ځایه راپیل شو ، څنګه یې په اروپا او په ځانګړې ډول په فرانسه کې وده وکړه او څنګه یې شرقي ژبو او په

---

* Assistant Professor Academy of Sciences Kabal, Afghanistan.

تېره تېره پښتو ادب ته لار وکړه ، همدا ډول په دې ليکنه کې په پښتو ژبه کې د لومړنيو رومانوي شاعرانو او ليکوال يادونه شوې او ددې اړتيا روښانه شوې چې په پښتو ادبي کې د رومانوي ادبياتو تر څنګ بايد د رومانتيسيزم د ادبي مکتب د ايجاد ، پرمختګ او پاللو په اړه بايد کتنه وشي او په پښتو معاصر ادب کې د رومانيت د بېلابېلو توکو په تجزيه او سپړنې هم بحثونه ترسره شوي دي.

سريزه:

رومانيت تحريك يا رومانتيزم د اروپا په ځانګړې توګه د فرانسې د سياسي ، ټولنيز او روحي بدلون زېږنده ده، چې پر هنر او ادبياتو يې حاکميت موندلی او د کلاسيزم په مخالف قطب کې واقع شو. يعنې د کلاسيزم د مکتب ټول قواعد يې مات کړل او په هنر او ادبياتو کې د آزادۍ غوښتونکی شو . د رومانتيك اصطلاح له اولسمې ميلادي پېړۍ څخه په انګلستان کې د شاعرانه بدلونونو په اړه کارول کېده او له ۱٦٧٦ م کال څخه فرانسې ته راغلې او تر ډېرې مودې پورې د خيال انګېزۍ او افسانې مترادف و. پښتو ادب ته دغه تحريک په شلمه پېړۍ کې رادننه شو چې په دې ليکنه کې يې لومړنې بنسټګر او رواجوونکي ښوودل شوي دي .

د دې څېړنې اهميت او مبرميت:

دا چې رومانيت يا رومانوي تحريک په پښتو ژبه کې ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کې دی او په لسګونو ليکوال او شاعران د دغه ادبي مکتب په پېروۍ خپل ادبيات خلق کوي ؛ خو په پښتو ژبه کې ددې

مکتب په اړه پوهه او د موادو کچه د نشت برابره ده . نو پر دې اساس په پښتو ژبه کې د رومانوي ادبیاتو په اړه لیکنې یو مبرم ضرورت دی ترڅو د ادبیاتو زده کړیالان او مینه وال د رومانیت د اصولو او قواعدو په اړه معلومات ترسره کړي او همدارنګه دغه لیکنه به په ګانده کې پښتنو لیکوالو ته د رومانیت په اړه د یو ماخذ حیثیت ولري .

د څېړنې موخې:

ددې څېړنه او لیکنې اهمه موخه د پښتنو لیکوالو او د ادب مینه والو ته د رومانوي ادبیات او په ځانګړي ډول د رومانیت تحریک په اړه پوهه ورکول دي او په پښتو ادبیاتو کې د رومانوي تحریک په اړه د مستندو معلوماتو وړاندې کول دي ، ځکه په پښتو ژبه کې د رومانوي تحریک په اړه لیکنې ډېرې کمې او د نشت برابر دي .

د څېړنې پوښتنې:

- رومانیت څه ته وایي ؟
- څه وخت رامنځ ته او کله یې پښتو ادب ته لار پیدا کړه ؟
- دیو رومانوي اثر خصوصیات کوم؟
- په پښتو ژبه کې د رومانوي تحریک لومړي مؤسسین کوم دي ؟
- په پښتو کې د رومانوي تحریک بشپړ استازی څوک دی ؟

د څېړنې روش:

دا مقاله د تشریحي - تحلیلي میتودپربنسټ مخ ته تللې ده.

متن:

"رومانتيسيزم، رومانيت تحريك يا رومانتيزم د اروپا په ځانګړې توګه د فرانسې د سياسي، ټولنيز او روحي بدلون زېږنده ده چې پر هنر او ادبياتو يې حاکميت موندلی او د کلاسيزم په مخالف قطب کې واقع شو. يعنې د کلاسيزم د مکتب ټول قواعد يې مات کړل او په هنر او ادبياتو کې د آزادۍ غوښتونکی شو. د رومانتيك اصطلاح له اولسمې ميلادي پېړۍ څخه په انګلستان کې د شاعرانه بدلونونو په اړه کارول کېده او له ۱٦۷٦ م کال څخه فرانسې ته راغلې او تر ډېرې مودې پورې د خيال انګېزې او افسانې مترادف و"1

"د رومانتيسيزم نوم د رومانټيك (Romantic) له صفت څخه مشتق شوی چې د رومانټيك کلمه هم د زړې فرانسوي ژبې له رومانز(Romanz) څخه اخيستل شوې ده چې معنا يې رومان (Romance) يا ناول (novel) دی، ليکن دغه کلمه د لومړي ځل لپاره د ۱٦۵۴ م کال په حدودو کې په انګليسي ادبياتو کې استعمال شوې ده، د رومانټيك معنا ده (د رومان په شان) چې مجازاً د خيالي او موهومي په معنا استعمالېده."2

په اروپا کې د ۱۸ مې پېړۍ د اشرافو طبقې خپل قدرت او اعتبار له لاسه ورکاوه چې د اخلاقي فساد، ظلم او بې پروايي سيوری يې د عامه وګړو پر سر خپور شو، هغه دوره چې د ۱۷۵۷ م کال د قانون له مخې چې په هغه کې راغلي وو: «هر هغه اثر چې د اخلاقو خلاف تشخيص کړای شي، ناشر

او ليکوال به يې په مرګ محکوم شي » داسې يوه دوره چې په هغه کې د « ژان ژاك روسو » په شان ليکوالان چې د

" (امېل) په نامه کتاب يې ليکلی و، د ځاني خطر له وجهې يې سويس ته پناه يوړه، هغه دوره چې د دايرة المعارف يا انسايکلو پېډيا خپرول په کې جرم ګڼل کېده، خلك د يادو ستونزو مقابلې ته راووتل."[3]

"د رومانټيسيزم د اتلسمې پېړۍ د وروستيو او د نولسمې پېړۍ د لومړيو وختونو نهضت دی، چې په ادب، فلسفه، هنر، مذهب او سياست کې د پخوانيو شکلونو پر ضد يو عکس العمل بلل کېږي."[4]

" د ۱۸ م پېړۍ لومړنۍ نيمايي د ليکوالو او فيلسوفانو لپاره د عامو وګړو په مرسته د افکارو د استعمال فضاء رامنځ ته شوه، ديني تعصبات کم شول، د پروتستانو ودونو رسميت وموند، د تيارې او ظلمت کاسه نسکوره شوه. تر ۱۸ م پېړۍ پورې ادبياتو خاص پر عقلانيت باندې تکيه کوله، د ۱۸ م پېړۍ له دويمې نيمايي راپه دېخوا هنر او ادبيات له حسي انتقاد سره مخامخ شول چې ډېرو ليکوالو د عقل پر وړاندې احساساتو ته ډېره ترجيح ورکوله، د رومانتيزم دورې په اثارو کې غميز مسايل ډېر تر سترګو کېږي، د دې دورې وګړي په ټولنيز ژوند او ځينې يې هم د برابرۍ او خپلواکۍ پلويان او خوښوونکي وو." [5]

"د رومانيت تحريك په راتګ سره د شاعرانو په شعرونو کې د خوښيو انګازې خورې شوې، اديبانو کوښښ وکړ، چې د روم او يونان د کلاسيکو آثارو د تاثير لاندې رانه شي، پام يې د سکانډينا شمال لور افسانو ته واړاوه او په ادبياتو کې يې نويو رومانټيکو مسايلو ته مخه کړه."[6]

سکاټلينډې حماسه ويونکی شاعر اوسيان Ossian د دريمې مېلادي پېړۍ د اروپايي رويانيستانو له غوره بېلګو څخه ګڼل شوي د ياد شاعر (نابينا ) اثر يې د هومر له آثارو سره برابر ګڼلی دی. کله چې رومانټيزم يا رومانيت تحريك د المان په هېواد کې لوړې پوړۍ ته ورسيد ، د لومړي ځل لپاره د سويس په زوريخ کې ګسنر gessner (۱۷۸۸- ۱۸۳۰ م ) د (هابل مرګ)په نامه منظومه وليکله چې په دې منظومه کې چوپانيژوند ، له طبيعت سره مينه او هيلو ته رسېدل يې په کې تمثيل کړي وو.

"له ګسنر څخه راوروسته، شيلر او ګويته د المان په ادبياتو کې په زړه پورې، تلپاتې آثارو ليکلو ته لاړ وموندہ او د غوره رومانټيکو اثارو ليکل يې په برخه شول."[7]

ژان ژاك روسو د فرانسې له هغو حساسو اشخاصو څخه ګڼل شوی چې د رومانيت تحريك په رامنځ ته کولو او د رومانټيزم ما قبل دوره چې رومانټيزم په کې رامنځ ته شو تر بل هر چا ډېر د ستايلو او يادونې وړ دی.

د رومانټيزم مخکينۍ دوره په اصل کې هغه دوره ګڼل کېږي چې په هغه کې عاطفي غوښتنو ادبياتو ته لاړ وموندله.

”په رومانټيك پير كې له علومو څخه ډېر څه ترلاسه شول، ادبي موضوعات خپاره او ادبي ورځپاڼو ارزښت وموند. د رومانيت تحريك په لومړيو شپو ورځو كې منظوم او منثور ادبي اثار په مياشتنيو او مهالنيو ادبي خپرونو كې چاپ او خپاره شول، رومانتيزم دورې د ليكوالو او هنر مندانو د ټولنيز مقام په پراختيا كې ژور رول ولوباوه.“8

رومانتيزم هغه دوره ده چې خيالي افسانو او عشقي مسايل او موضوعات په ليكنې ډول په ادبياتو او ټولنيزو علومو كې د ۱۹ م پېړۍ په پيل سره د نړۍ په ډېرو هېوادونو كې خپاره كړل.

رومانتيزم په ١٦٧٦ م كال د فرانسې ليكوالو، شاعرانو، اديبانو او فيلسوفانو ترمنځ د ليكنو او استعمال چوكاټ ته داخل شو چې تر ډېر وخت پورې د خيال پردازۍ، افسانو او عشقي مسايلو د خپراوي په موخه كارول كېده.

”د فرانسې رومانتيزم د انګلستان او المان د رومانتيزم د اغېز له امله رامنځ ته شو، د لومړي ځل لپاره شاتو بريان chateaubriand د انګليستان شاعرانو اثار او مادام دوستان د الماني شاعرانو اثار خپلو فرانسويانو ته په فرانسوي ژبه وژباړل چې بيا وروسته ورو ورو د رومانتيزم لړۍ په فرانسه كې زور وموند. د فرانسې نور غوره رومانټستان لكه: الكساند، دوماى پدر، ويكتور هوګو، آلفرد دومسه او سنت وو او ژرژسان چې غالباً په فكري او روحيى لحاظ يې ورسره جوت توپير درلود، يې له توپاني حالته راوويستل.“9

د رومانتیزم د مکتب اصول:

رومانیت ډېر پیچلي او بې نظمه اصول او ځانګړنې لري، د کلاسیزم د اصولو په نسبت رومانیت اصول د خپلو پېروانو له خوا ډېر د منلو وړ دي. شلګل schlegel چې د الماني رومانتیزم له سرلارو ګڼل کېږي، پر دې عقیده دی چې د رومانیت ادبیات د بېلابېلو ادبي ډلو د ناستې پاستې (مشورتي) جریان نماینده ګي کوي. که وغواړو چې د کلاسیزم او رومانتیزم د پلویانو تر منځ مقایسه وکړو، لاندې پایلو ته رسیږو:

"۱ـ د کلاسیزم پلویان د خپل فکر په مدار عقیدت لري، یعنې ایډیالستان دي او په هنر کې دوی یواځې او یواځې د ښکلا ستاینه ګوري، د رومانتیزم پلویان بیا په دې عقیده دي، چې په هنر کې د هنر د ښکلا له ستاینې لومړی د هنر ښه او بد اړخونه څېړي.

د رومانتیزم ډرامه (ډرام) هغه اثر دی چې له خوارۍ، بدبختۍ، سترتوب، غم او خوښۍ جوړه ده، په دې ډرامه کې د ژوند بېلابېل اړخونه په پام کې نیول شوي دي.2ـ د کلاسیزم پلویان عقل د شعر اساس او بنسټ ګڼي، د رومانتیزم پلویان احساس او خیال پردازي د شعر اساس بولي.

۳ـ د کلاسیزم پلویان د پخواني روم او یونان له ادبیاتو اغېزمن وو، د رومانتیزم پلویان د منځنیو پېړیو (رنسانس دورې) د خپل هېواد له ملي افسانو او مسیحي ادبیاتو اغېزمن وو، د رومانیت پلویانو بله

ځانګړنه داده، چې د نورو ملتونو له معاصرو ادبیاتو او په ځانګړې توګه د شکسپیر لارویان هم وو.
۴ـ د کلاسیزم پلویان یو شي ته د قاطعیت په نظر ګوري، وار له واره یې د موجودیت څرګند حقیقت بیانوي.
د رومانتېيزم پلويان د يو شي، رنګ، ښکلا او منظرې ته په پام سره د هغه شي حقیقت بیانوي، یعنې کلاسیزم د یو شي جزئیات په پام کې نه نیسي، د یو شي په کلیاتو تکیه کوي.
۵ ـ رومانیت د خپل فکر په وسعت سره د کلاسیزم قواعدو ته ماتې ورکړه، رومانتېستانو د یو شي په اړه آزادانه فکر کاوه، د موضوع اړوند ټول مسایل یې د فکري آزادۍ په رڼا کې خپرول، ویکټور هوګو د خپلې ارنانې (Hernani)نمایشنامې په سریزه کې ویلې: «په هنر کې د خپلواکۍ غوښتنه.»"10

د رومانتیزم ځانګړنې:

"۱ـ آزادي: په ۱۸۳۰ م کال کې ادبي انقلاب رامنځ ته شو، چې ویکتور هوګو او ملګرو یې د هغو مخکینیو پرېکړو پر اساس چې د دوی په مجله کې خپرې شوې وې، رومانیت یې( د هنر او شخصیت آزادي) مکتب په نامه ونوماوه. په دې دروه کې د فکر او بیان آزادۍ ته د قدر په سترګه وکتل شول، ادبیات یې د ژوندانه د اړخونو په بیان کې آزاد ګڼل. د انساني او ټولنیز ژوند په ډېرو مسایلو کې یې سترګې نه پټولې. د رومانتېيزم په چوکاټ

کې يې د يو شي ښايست او بدرنګوالی (ښه والی او بد والی) ښکاره کاوه، مروجو اخلاقي قوانينو ته يې پاملرنه نه کوله.

۲ـ شخصيت: يو رومانتيک هنر مند د کلاسيزم له قواعدو د ځان ژغورنې او آزادۍ په لټه کې وي، په هنر کې (ځان) ته تابع کېدل غواړي او د هنر په مرسته د خپلو جسمي (دروني) احساساتو د بيان غوښتنه کوي، چې دې کړنلارې ته بايد د ځانښودنې په شک ونه کتل شي.

رومانتيک هنرمند د کلاسيزم د پلويانو په شان د کلي انسان له ستاينې څخه ډډه کوي، دوی له افسانو څخه اتل نه جوړوي، بلکې له خپل شخصيت څخه اتل جوړوي.

۳ـ احساسات او هيجان: الفرد دومسه ويلي: «بايد هذيان (چټيات) ووايم.»احساساتو ته په عقل ترجيح ورکول د رومانيت د پلويانو له اړوندو اصولو څخه ګڼل کېږي، رومانتيستان په دې عقيده دي چې هنرمند هيجان رامنځ ته کوي او خلك په هيجان راولي، زړه بايد پرته له قيد او شرط خبرې وکړي او پرته له قيد او شرط امر وکړي.“11

دوی وايي: شعر بايد پرېشانې زلفې باد او توپان ته وسپاري او هغه بې لستوڼو جامې او بربنډې څنګلې د ونې د سيورې لاندې، د سپوږمۍ په رڼا کې د يو وران برج په څنګ کې په داسې زړه سره چې پرته له شك د عشق په زور مات شوی وي، له خپل شخصيت سره خبرې وکړي او د خيال په خوبونو کې ډوب شي.

رومانټيك ادبيات داسې شكل جوړوي چې وار له واره د خلكو په زړونو كې ځاى ونيسي، احساسات، عواطف او د ژوندانه بېلابېل اړخونه د ټولنې له جزئياتو راپېلوي او عام ولس ورسره اشنا كوي.

رومانټيك غم هغه وخت شدت پيدا كوي، كله چې بې رحمانه تېر وخت په سترګو وليدل شي.

"د نا ارامه او دردېدلي زړه دا غم زياتره له هغه غوښتنو راپيدا كېږي، كله چې په بې احساسه او بې ايمانه نړۍ كې ګرفتار شي."12

۴ـ تېښته، خلاصون او سياحت: د رومانتيزم د پلويانو بله ځانګړنه داده چې د ټولنې يا چاپېريال د موجوده حالاتو يا زمانو د ستړيا احساس وكړي، د نورو زمانو او فضاوو پر لور په تاريخي، جغرافيايي، واقعي يا خيالي توګه سفر كوي، چې دا د رومانټيكو آثارو مهم بحث تشكيلوي.

"اكثر رومانټيكو ليكوالو خپلو زمانو او استوګنځايونو پرته د خيال او فكر په واسطه يا په واقعي توګه او يا هم په تاريخي او جغرافيايي لحاظ په خپلو آثارو كې ډېر نور هېوادونه، كارنامې او افسانې د فكري سفر په واسطه ترسيم كړي دي."13

"د بېلګو په توګه:موسه د پريكليس pericles د زمانې يادونه كړې، په يو نه يوډول يې د هغه طلايي عصر بيان كړى دى او تر ايټاليا پورې يې د فكر وړانګو سفر كړى دى. همدا شان نورو رومانټيكو ليكوالو لكه: مريمه اسپانيا ته، الكساندر دوما اسپانيا او ايټاليا ته، تئوفل ګويټه اسپانيا، مشرق، روسيې او ايټاليا ته، شاتو

بريان، نزوال او نورو په خپلو آثارو کې د مشرق ستاينه او يادونه کړې. لکه څنګه مو چې يادونه وکړه، دوی که په واقعي توګه هلته تللي، يا يې په تاريخي، جغرافيايي او افسانوي توګه په خپلو اثارو کې يادونه او ستاينه کړې ده او د هغو خاطرات يې ځلولي دي. له دغو ټولو اروپايي سفرونو څخه د رومانټستانو هيله په زړه پورې ښايسته ټولنې چاپيريال او د بېلابېلو تازه رنګونو د پيدا کولو او لاس ته راوړلو لټه وه، يعنې هغه له کماله ډکه ښکلا چې رومانټيک هنرمند ورپسې ګرځي، ترڅو د رومانټيزم اصل ته ځان په کې ورسوي.“14

”۵ـ کشف او مشاهده: رومانټيك هنر مندان په دې عقيده دي چې د حقيقت پر ځای تخيل، هيلو او معجزو ته ځای ورکړي، د دې پر ځای چې تقليد وکړي، د خيال او تصور پيروي کوي. دوی په دې باور دي، هر هغه څه چې په نظر راځي او ليدل کېږي، مهم نه دي، بلکې هغه څه چې ثابت شتون ولري مهم او ضروري دي، رومانټيزم د يو شي يو ډول منځنۍ مبالغه ده.“15

د خبرو او وينا جادوګري: رومانټيزم يوې کلمې ته ډېر ارزښت ورکوي او پر دې باور دي چې کلمات بايد خيال انګېزه مفهوم د يوې زړه وړونکې سندرې په ترڅ کې بيان کړي.

”ويکټور هوګو وايي: «کلمه له خبرو او وينا څخه عبارت ده او خبرې خدای دی.»همدا شان په انجيل کې هم راغلي دي: «لومړی کلمه رامنځ ته شوې او کلمه خدای وه.“ 16

"۷ـ له مسیحیت سره مینه او علاقه: د رومانیت پلویان د ۱۸ مې پېړۍ د فیلسوفانو مخالف وو، ځکه چې هغوی له مسیحیت سره د مینې مخالفت کاوه. دین ته د زړه او باطن د احتیاجاتو په نظر کتل احساس یې د دین له ابلاغ او دین سره د پیوستون لار ګڼله، شاتو بریان په خپل اثر «د مسیحیت جلال»کې له مسیحیت سره په دې د مینې اظهار کړی، چې مسیحیت شاعرانه دین دی، نه دا چې بهترین دی. دغه روحاني دروني پیوستون ددې باعث شو چې رومانټیکیلیکنې د یو روح د خاطراتو په ترڅ کې تعبیر شي."17

رومانټیکو لیکوالو د خپلو اعصابو د تسکین لپاره تخیل، وهم پرستۍ، آزادۍ او لاقیدۍ، د طبیعیت له مناظرو سره مشغولا، طغیان او سرکشي، عشق، ترحم، شعر او موسیقي، د افسانو او سېمبولونو تراش، تصوف، بېخودي او ځان هېرول او داسې نور مفاهیم خپل شعار وګرځول.

"دوی ځان ته د خپلو اندېښنو له ښتو خیالي رومانټیکي مانۍ جوړې کړې، له همدې ځایه یې د رومانټیزم ډیوه روښانه ساتله. (ګوزېشت نتردام) د ویکتور هوګو غوره منثور اثر د رومانټیزم په زمانه کې د ګوتیك حماسې په بڼه رامنځ ته شو."18

که په دې خبره اقرار وکړو او غاړه کېږدو څومره چې کلاسیزم د منځنیو پېړیو له راتګ وېره درلوده، رومانټیزم ورسره مینه لرله او وده یې په کې موندله او په هماغه اندازه رومانټیزم د همدې پېړیو د راتګ هرکلی کاوه.

"که يې را لنډه کړو د رومانيت مکتب اساسي ځانګړنه پر استدلال او تعقل باندې د احساس او تخيل له لوړاوي ورکولو څخه عبارت ده، ددې مکتب پلويانو په خپل ځانګړي ليد سره په حقيقت کې ژبې ته تازه والی وروباخښنه او شعر ته يې نوی رنګ او تازه ګي ورکړه، د رومانټيزم مکتب ځانګړی پروګرام درلود چې د هغې په رڼا کې يې خپله تګلاره وهله، دغه کړنلاره له آزادۍ، شخصيت، هيجان، احساساتو، تېښتې او خوځښت، کشف او شهود او بالاخره د خبرو له سحر څخه عبارت وه."[19]

د تياتر په نړۍ کې د هوګو (کرمول) مقدمه نمايش او ننداري ته وړاندې شوه چې د دې ننداري په ښودلو سره ستر انقلاب رامنځ ته او رومانټيك ډرامې په کې وړاندې او بيان شوې.

"(انتوني) نمايشنامه د ( دوما ) اثر، (ارناني) د هوګو اثر، (شاترتون) د الفرد دوويني له رومانتيکي نمايشنامو څخه دي. په غالب ګومان د (روح او نفس) په نامه اثر او د (شنت بو) د (شهوت) په نامه اثر، چې د رومانټيزم په دوره کې ډېر د پام وړ وو، اتلولي يې رامنځ ته کړې او د رومانټيزم مينه والو ته يې ددې اثارو د نمايش او ننداري په ښودلو سره فکري وده رامنځ ته کړه ."[20]

ويکټور هوګو په رومانټيزم کې د نثري ليکنو قوي استعداد درلود، هغه په خپلنثري رومانټيك اثر (هغه سړی چې تر اوسه خاندي) کې ظاهري يا بېروني بدوالی له باطني يا دروني ښکلا سره يو ځای کوي. په بل اثر

(بېنوايان) کې هم ټولنيز قوانين د انساني اخلاقو او فردي قوانينو سره يو ځای کوي.

په يو بل رومانتيکي اثر کې (ديو محکوم اخري ورځ) کې هم د انساني درد او رنځ بيان کوي، همدا شان د (د سيند کارګران) نومې اثر کې هم د انسانانو او طبيعت شخړې بيانوي.

نوموتې رومانتسته ليکواله «ژرژساند Georgesand » هم په زړه پورې نثري، غنايي او حماسي آثارو ايجادګره ګڼل کېږي، چې په رومانتيزم کې يې په زړه پورې تاثيرات لرلي او ددې مکتب په لارويانو کې يې مثبت بدلون راوستی دی.

"مېرمن (ژرژساند)د فرانسې مشهوره رومانتيسته ليکواله په خپله يوه جمله کې وايي: «موږ يو بد بخت نسل يو، له دې امله د خپلې بېوزلۍ په سبب مجبور يو، چې د هنر د درواغو په مرسته خپل ځان د ژوند له واقعيت څخه ليرې وساتو."21

کولای شو چې ووايو رومانيت د رياليزم په کړنو د مقدمې په رڼا کې لومړی وګڼو، په دې معنا چې د ټولنيزو مسايلو برياليتوب او د وګړو ترمنځ اړيکې د رومانتيزم له مهمو ټکو څخه شمېرل کېږي، چې ټولنيز ژوندانه ته يې د خپل فکري مکتب (رومانيت) په مټ وده او پرمختګ ورکړ.

"د ۱۸۳۰ـ ۱۸۴۰ م کلونو د سياسي توپانونو د رامنځ ته کېدو او د رومانتيزم د قوي سرلارو د يو بل نه جلا والي او لرې کېدل ددې سبب شول، چې د رومانتيزم مکتب له ورکې سره مخامخ شي، الفرد دومسه، لامارتين او الفرد

دويني ددې مکتب په پېروۍ له ليکنو لاس واخيست، يواځې ويکتورهوګو تر خپل مرګه (۱۸۸۵م) پورې د رومانيت پلوي پاتې شو او خپلې رومانټيکي نثري او منظومې ليکنې يې جاري وساتلې."22

په انګلستان، فرانسه، المان، روسيه، مجارستان او نورو هېوادونو کې هم رومانتيك ادبياتو پوره وده کړې وه او ددغو هېوادونو ليکوالو ددې ادبي مکتب په پرمختګ کې پوره ونډه لرلې ده، چې دلته يې له زيات تفصيل څخه تېرېږو او په لنډ ډول د رومانيت تحريک په پښتو ادب کې څېړو:

که څه هم په پښتو ادب کې رومانتيسيزم د نړيوال رومانوي مکتب له املهرامنځته شوی ښکاري خو له دې سره سره له دې حقيقت نه هم سترګې نه شو پټولای چې د رومانتيسيزم عناصر د هرې ژبې په ادب کې له وړاندې موجود وو، د پښتو ادب په تاريخ کې خوشال بابا هغه ستره هستي وه چې د پخوانيو ادبي رواياتو پر خلاف يې د بغاوت بيرغ پورته کړ او په خپل شعر کې يې نوي مفاهيم او نوي خيالات ځای کړل، کوم چې د نړيوال رومانوي مکتب بنسټيز محرکات ګڼل کېږي، خو له خوشال نه وروسته بيا د هغه د فکري مکتب نورو پېروانو دغه سلسله په سمه توګه ونه پالله او بيرته خبره کلاسيکيت او روايت ته وروګرځېده.

که څه هم ځينو ليکوالو رومانتيسيزم د پښتو په کلاسيک ادب کې هم تر څېړنې او مطالعې لاندې نيولی او د حميد بابا او ځينو نورو شاعرانو په اشعارو کې يې د رومانوي شاعرۍ ځرکونه بيان کړي دي، خو په باقاعده توګه په پښتو ژبه او ادب کې رومانيت د شلمې پېړۍ پيداوار دی.

"رومانتیسیزم یا رومانیت پښتو ته یوه ناوخته راغلې اصطلاح ده چې تر ډېره د اردو او انګلیسي ادبیاتو په لاره یې پښتو ژبې ته لار پیدا کړې ده. له پښتو ژبې نه مخکې اردو ژبې د انګرېزي ژبې نه رومانیت خپل کړی دی، چې د اختر شېراني، علامه اقبال لاهوري او د اردو ژبې د نورو شاعرانو په کلام کې په پنجاب پوهنتون کې رامنځ ته شو، پنجاب پوهنتون له پېښور پوهنتون څخه پنځه ویشت کاله وړاندې جوړ شوی و او په لوی هند کې د ټیګور غوندې شاعر او لیکوال په بنګال کې او ډاکټر اقبال په پنجاب کې زده کړې کړې وې او له انګرېزي ادب سره ښه اشنا وو. د دوی یو بل همعصر شاعر خلیل جبران د اردون د سیمې شاعر و، د اقبال جاوید نامه د رومانتیسیزم نه ډکه ده، د بانګ درا نظمونه یې هم رومانټیک دي، د ټاګور شاعري ګیتانجلي هم صوفیانه رومانټیسیزم دی، دغه شان ناولونه او افسانې یې هم د رومانتیسیزم خصوصیات لري. حفیظ جالندري او د هغه لومړنۍ شاعري له غزل او شاهنامو څخه پرته له رومانټیک ښکلو نظمونو څخه ډکه ده، بل خوا ورسره جوش ملیح ابادي یو رومانټیک نظم ویونکي شاعر دی او همدا شان د ټولو نه اول اسماعیل میرتهي د فطرت د مختلفو شیانو تجربه کړې وه، خو دا ټول د انګریزي شاعرۍ د مطالعې وجهه وه چې په اردو ادب کې د روماتیسیزم مکتب پیل شو او د وروستي دور اردو ژبو

شاعرانو فیض احمد فیض او ساحر لدهیانوي په شاعرۍ کې د روماتیسیزم ټول خصوصیات موندل کېږي"۔ 23

"کله چې پېښور پوهنتون جوړ شو، نو په هغه وخت کې فضل حق شیدا، سید رسول رسا او اشرف مفتون غوندې شاعران پیدا شول. د فضل حق شیدا پر شاعرۍ د اقبال اثر پروت و او سید رسول رسا یو نیم روماټیک نظم لیکلو خو د اشرف مفتون په شاعرۍ کې د روماټیسیزم توکي په پرېمانه توګه وو په همدغه وخت کې یونس خلیل هم و چې روماټیک نظمونه یې لیکل په همدې وخت کې د اجمل خټک هم د روماټیک شاعرانو په کتار کې خپل ځای معلوم کړ همدا ډول غني خان، همېش خلیل او قلندر مومند هم د رومانوي شاعرۍ کامیابې تجربې وکړې عبدالرحیم مجذوب هم په همدې دور کې د رومانوي شاعرۍ په لاړ کې د ساحر لدهیاني لاړ ونیوله، خو که موږ په پښتو معاصر نظم کې د روماټیسیزم بشپړ نماینده شاعر پلټنه وکړو نو اشرف مفتون به داسې شاعر ومومو چې په پښتو شاعرۍ کې د روماتیسیزم د ادبي مکتب تقریباً ټول خصوصیات یې په خپله شاعرۍ کې ځای کړي دي. ښاغلی عبدالله جان عابد په خپل کتاب (پشتو زبان وادب کې مختصر تاریخ ) کې وایي چې اشرف مفتون او غني خان د پښتو رومانوي شاعرۍ هغه ستنې دي چې په کلامونو کې یې د رومانویت ټول عناصر شامل دي"۔24

موږ وویل چې په پښتو ادب کې رومانوي شاعري یا رومانتیسیزم اثرات په شلمه میلادي پېړۍ کې په ډېر آب وتاب راپورته شول چې موږ ددغه مکتب سرلاري په ځانګړي توګه اشرف مفتون، عبدالرحیم مجذوب، فضل الحق شیدا ، یونس خلیل، سید رسول رسا ، رحمت الله درد ، غني خان، همېش خلیل ، ایوب صابر، پرېشان خټک، اجمل خټک، قلندر مومند ،، هاشم بابر، سلیمان لایق، محمد صدیق پسرلی او نور یاودلی شو، دغو شاعرانو او لیکوالو په شعوري ډولرومانتیسیزم پښتو ته داخل کړو او ترڅنګ یې په مخامخ ډول د رومانتیسیزم مطالعه هم کړې وه، چې په دې ډول د دغو شاعرانو په اشعارو کې رومانتیسیزم مکتب زیاتره توکي لکه، فکري آزادي، جمالیاتي رنګ او فطرت نګاري او له فطرت سره مینه، شاعرانه بغاوت، حسن او عشق، د تخیل او اظهار آزادي موږ په زغرده لیدلای شو.

پایله:

رومانتیسیزم دَ انګرېزۍ ژبې کلمه ده چې د انګرېزۍ د (Romance) نه او(Romance) بیا د فرانسي ژبې لفظ د (Romanz) نه اخیستل شوی دی چې لغوي معنا یې د خلقو خبرې دي او د رومانس لغوي معنا د حکایت، داستان او افسانه په معنا کې کېږي . اصطلاحاً"رومان" او "رومانویت" جدا جدا معنا لري۔

رومانویت د ژوند یوه مخصوصه رویه ده چې ازاد خیالي ، انا پرستي ، مستي ، ځانخوښونه او د بغاوت په شان توکي په کې جوت وي۔د تخیُل دغه ازادي د تخلیق یوه داسې چینه رابرسېره کوي چې د یو طوفان نه په هیڅ صورت کم نه وي۔رومانویت د احساس او اظهار هغه انداز او طرز

دے چې د فکر په ځای پېه کې د تخیُل تومنه درنه وي . د خوب او خیال په رنګین جهان کې ګرځېدل رومانویت دی او په دغه لحاظ ورته ځینو خلقو د ایتهوپیا سره یو شان ګڼلی دی .

که څه هم رومانتسیزم تحریک په فرانسې کې رامنځ ته شوی او پښتو ادب ته په شلمه پېړۍ کې راغلی دی ، خو په پښتو ادب کې یې هم د نورو ژبو د ادبیاتو په څېر یې رېښې درلودې چې په شلمه پېړۍ کې د یو باقاعده او ځانګړي ادبي تحریک په توګه رواج شو او زیاتو پښتنو شاعرانو په دغه لار کې خپلې نوې تجربې وکړې .

# مأخذونه


1. آريانا دايرة المعارف، ځلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف مرکز، نبراسکا مطبعه، کابل، ۲۰۱۱ م کال، ۱۱۹ مخ.
2. ژېړندوی محمد صديق روهي، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸٦ ل کال، ۳۸٦ مخ.
3. غلام حسينده بزرگي، تاريخ ادبيات جهان، چاپ اول، انتشارات، زوار، تهران، بهار1386ش، ۱۳۷ص.
4. ژېړندوی محمد صديق روهي، ادبي څېړنې، ۳۸۷ مخ.
5. ديويد ديچيز، شيوه هاي نقد ادبي،ترجمه، صدقيان، محمد تقي و يوسفي، غلام حسين، چاپ پنجم انتشارات، علمي، تهران، 1379ش، ۱۱۹ ص.
6. غلام حسين ده بزرگي، تاريخ ادبيات جهان، ۱۳۲ ص.
7. سيد حسيني رضا، مکتب هاي ادبي، چاپ چهاردهم، انتشارات، نګاه، تهران، 1385ش، ۱۲۳ ص.
8. غلام حسين ده بزرگي، تاريخ ادبيات جهان، ، ۱۳۴ ص.
9. ديويد ديچيز، شيوه هاي نقد ادبي، ۱۳۴ص.
10. لُيس تايسن، نظريه هاي نقد ادبي معاصر، ترجمه، حسين زاده، مازيار و حسيني، فاطمه، تهران، **۱۳۹۴** ش. ۸۹ ص.
11. سيروس شميسا، نقد ادبي، دريم چاپ، انتشارات فردوس، تهران، **۱۳۸۱** ش، **۱۷۳** ص.
12. لُيس تايسن، نظريه هاي نقد ادبي معاصر، ۱۳۱ ص.
13. آنتوني ګيدنز، جامعه شناسي و نظريه اجتماعي، ترجمه منوچهر صبوري، نشر ني۱۳۷۸ش، **۱۳۸** ص.
14. مير صادقي جمال، ادبيات داستاني، انتشارات شفا، ايران، تهران، **۱۹۸۷** م، ۳۷ ص.
15. ابوالحسن نجفي، وظيفه ي ادبيات،کتاب زمان،خيابان شاهرضا، تهران، چاپ اول،**۱۹۲۳**، ۸۹ ص.
16. آنتوني ګيدنز، جامعه شناسي و نظريه ي اجتماعي، ٦۵ ص.
17. ابوالحسن نجفي، وظيفه ي ادبيات، ۱۲۲ ص.
18. مير صادقي جمال، ادبيات داستاني، ۱۳۲ ص.
19. آريانا دايرة المعارف، ځلورم ټوک، ۱۱۹ مخ.
20. ابوالحسن نجفي، وظيفه ي ادبيات، ۸٦ ص.
21. غلام حسين ده بزرگي، تاريخ ادبيات جهان، ۸۹ ص.
22. سيروس شميسا، نقد ادبي، **۱۷۴** ص.
23. عبدالرحيم مجذوب، د رومانوي تحريک پس منظر، خصوصيات او پښتو ادب ته راتګ، جرس، نظم نمبر، کراچي، ۲۰۰۱- **۲۰۰۲** م کال، **۱۷۵** مخ.
24. عبدالله جان عابد، پشتو زبان و ادب کي مختصر تاريخ، يونيورستي پبلشرز، پشاور، **۲۰۰۲** م کال، **۲۲** ص

# د میر مهدي شاه د زنداني ادبي تخلیقاتو تنقیدي څېړنه

Dr. Noor ul Basar Aman*

**Abstract**

Mir Mehdi Shah is a prominent name in modern Pashto writers, poets and journalists. He has contributed to Pashto literature in its many elements. He was successful to great extent in every element and aspect of Pashto literature. He was also a practical politician due to which put behind the bars many times. But even in prison he continued to write and did not dry the ink of his pen.

In this research paper his contribution to many elements and aspects of Pashto literature has been discussed from all angles.

د پښتو په جدید ادب کښې کۀ افسانه ده او کۀ شاعري،د صحافت میدان دے کۀ د سیاست زندان،د باچاجي د ذکر نه به بغیر نیمګړے وي ـ د مهدي شاه باچا په باره کښې د ملګرتیا او عقیدت الفاظ د اجمل خټک داسې دي چې۔۔۔

* Asistent Professor Department of Pashto Malakand University.
dr.aman@uom.edu.pk

"اکثر جلسو، مظاهرو، مشاعرو، دفتر، دورو، کلو او حجرو کښې مونږ دواړه یو ځائے لیدل کېدو، حتٰی چې د مچ جهلم، ډېرو او پېښور جېلونو کښې هم یو ځائے ؤ..... مهدي ښۀ لیکوال، ښۀ شاعر، ښۀ مقرر، ښۀ مصنف، ښۀ ایډیټر او ښۀ یار خو منلے شوے دے. خو د پښتو افسانې شهرت د اباسین او هلمند په دنیا خور کړے دے".1

"مهدي شاه باچا د پښتو په ادب، سیاست او صحافت خور وور شخصیت په ۲ جنوري ۱۹۲۲ء کښې د جېلاني سېدانو په کورنۍ کښې د سید عبدالتواب شاه باچا کره په کانکوله داؤدزۍ کښې زېږېدلے دے."2

"په ۱۹۶۱ء کښې د جرنل ایوب خان د مارشل لاء خلاف په سرګرمو کښې مهدي باچا هم په دغه تور ککړ شو او د مئ په څوارلسمه نېټه کال ۱۹۶۱ء کښې ګرفتار کړے شو او درې کاله قېد کړے شو"3

او دغه شان د زندانونو دا نۀ ختمېدونکې مبارزه یې شروع شوه. د مهدي شاه باچا په شخصیت کښې د یو لیکوال ډېرې خوبۍ راجمع شوې وې او د قلم دغه خوبي یې په جېل کښې هم په کار راوسته په نظم او نثر کښې یې ډېر زنداني ادب تخلیق کړو ـ

"مهدي شاه باچا په اکتوبر ۱۹۷۳ء کښې په سیاسي تحریک کښې د عملي برخې اخستو په وجه سره د مخالفې پارټۍ د یو سیاسي غړي په حېث د ډي پي ار (DPR) ۳۲ د تعزیرات پاکستان د ضابطې لاندې ګرفتار کړے شو او هم په دې کال ۱۹۷۳ء کښې د جېل د ژوند

په دوران کښې د دوئ دا وړومبۍ مينه ناکه بي بي په حق اورسېده. د دې بي بي سره د مهدي شاه باچا د پرېوانه مينې محبت پته مونږ ته د دې خبرې نه لګي چې د قېد نه پس هغه د خپل کور د ليدلو دپاره هم واپس خپل کلي ته ورنۀ راغلو او په نزدې دوېم کلي واحد ګړهۍ کښې ئې استوګنه اختيار کړه."4

۱: د سوره فاتحه د پښتو تفسير:

دا تفسير په وړومبي ځل په کال **۱۹۲۴**ء کښې چاپ شوے وو او په دوېم ځل په جولائي **۱۹۸۲**ء کښې شاهين برقي پرېس پېښور کښې چاپ شوے او خپور شوے دے، دا تفسير يو سل يوولس (۱۱۱) مخونه لري او خالص په مذهبي بڼه کښې ليکلے شوے دے، دا تفسير سيد مير مهدي شاه باچا د خپل سياسي قېد په وخت کښې د کال **۱۹۲۱**ء نه تر **۱۹۲۳**ء په دوران کښې د ځنې قېدي ملګرو په وېنا هغوي ته د قرآن مجيد د ترجمې او تفسير کولو نه پس د هغې محفوظ کړې شوې کاپۍ نه، چې مهدي باچا به د مردان يو خپل سياسي قېدي ملګري حاجي شهزاد مير له ليکله، په هغې کاپۍ کښې د څۀ لږ ډېر ادلون بدلون راوستلو نه پس ئې دې تفسير له په کال **۱۹۲۴**ء کښې تاليفاً کتابي شکل ورکولو نه پس شائع کړو.

دا تفسير په پښتو ژبه کښې د خپل نوعيت وړومبے د سورت فاتحه تفسير دے اګرچې د دې نه وړاندې د مولانا ابوالکلام آزاد مرحوم د سوره فاتحه تفسير د افغانستان يو ليکوال محمد عثمان پښتون ترجمه کړے وو. خو د مهدي شاه باچا په تفسير کښې د نورو تفسيرونو نه د

فاتحي د تفسير دپاره تفصيلاً او تفسيراً استفاده کړے شوې ده، په دې وجه سره ډېر ګټور او سودمند معلومات ترېنه رالاس ته کېږي.

مهدي شاه باچا چونکې مروج ديني علوم حاصل کړي وو په دې وجه هغه په عربۍ هم پوهېدو او په دې تفسېر کښې د دغه علومو ښۀ اندازه کېدے شي چې په جبل دننه يې ځومره په ښۀ انداز عربي په پښتو ژباړلې ده ۔

" د عربۍ د مروجه علومو فاضل دے. د درسِ نظامي نۀ ئې فراغت بيامونده دے"5

"هغوئ د خپل قام د روحاني ښېرازۍ په غرض د سوره فاتحې په تفسير ليکلو ګوتې پورې کړلې او د جېل په حبسي لنډ تنګ ژوند کښې ئې د يو ملګري په وېنا د قرآن پاک د ترجمې کولو د تدريس په دوران کښې د کمو وسائيلو لرلو باوجود دا بېش بها خزانه پښتون قام ته سوغات کړه"6

دا اثر د مهدي شاه باچه په زنداني ادبياتو کښې اهم اثر دے ځکه چې په پښتو کښې په مذهبي موضوعاتو ليکل ډېر کم دي او د جېل په ماحول کښې دا کار سر ته رسول د باچه جي د پښتو په مذهبي زنداني ادبياتو کښې اهمه اضافه ده ۔

۲ : رونِ سحر:

رونِ سحر د مهدي باچا د نظمونو مجموعه ده چې ګڼ شمېر بلکې تقريباً ټول يې د ډېرو جېل، پېښور جېل، مچ جېل، جهلم جېل په تورتمونو کښې د "رونِ سحر" په امېد ليکلي دي.

"په مختلفو جېلونو کښې چې مهدي شاه باچا چې کوم ادب تخليق کړے ؤ. کومه شاعري يې کړې وه. هغه يې په وړومبۍ او تر دې دمه وروستۍ مجموعه "روڼ سحر" کښې شامله ده".7

"دا کتاب د مير مهدي شاه مهدي باچا منظوم اثر دے چې خالص په نظمونو اړتيا لري. او ټول په ټوله پکښې د بېلو بېلو سر ټکو لاندې يو کم پنځوس (۴۹) نظمونه راغونډ کړے شوي دي. د دې کتاب ټول مخونه يو سل څلور دېرش (۱۳۴) دي چې په کال **۱۹۲۵**ء کښې چاپ شوے او خپور شوے وو. دا نظمونه هم مهدي باچا لکه د خپلو سياسي او نظرياتي افسانو په رنګه د خپل قام د زېلي او مجبور ژوند د عکاسۍ کولو په تناظر کښې ليکلي دي چې پکښې مهدي باچا تر ډېره حده کامياب ښکاري"8

د يو زنداني نظم "زولنو ته" نمونه يې دا ده چې په ډسټرکټ جېل جهلم کښې په ۲۴ اګست ۱۹۲۲ء کښې ليکلے شوے دے.

"اے زولنو زما د قيد او مصيبت ملګرو
زما د شپې ورځې د درد او د زحمت ملګرو
منم د چا په خيال زما د لېوتوب نخښې يئ
ځکه د عقل دښمن زما په پښتو خوښې يئ
چا پرې زما د احساساتو وزرونه بند کړۀ
چا پرې زما د سرکشۍ ټول قوتونه بند کړۀ

بـزدل دښـمن راتـه مېـدان کښـې ړنګتـې جـوړه کـړه
د چـل او مکـر نـه يـې مـا لـره کـوړکۍ جـوړه کـړه
ظـالم ښـکاري د مـرګ دپـاره بنـديوان کړمـه زۀ
قصاب خپل کور کښې د چړې خرپ ته آسان کړمه زۀ"9

**۳ : مظلوم امام:**

"د مهدي شاه باچا مذهبي يا اسلامي منثور مهم اثر "مظلوم امام" هم دےچې د اسلامي تاريخ يوه ډېره ځلنده بېش بها برخه ګڼلے شي. او د حضرت امام حسېن او د هغوئ د خاندان د وګړو د دين اسلام دپاره د ورکړې شوو نااشنا قربانو تذکره پکښې د عبرت په غرض د مسلمانانو دپاره خوندي پرته ده.دا کتاب هم لکه د سورة فاتحې د تفسير په شان د مهدي شاه باچا د اسلامي تاريخ سره د حد په هور ته مينې محبت څرګندونه کوي دا کتاب هم د وړومبي ځل د چاپ له مخه د ډنټئيز ټائټل يعنې مخ پاڼې د "الف" شمېرې نه تر "ح" پورې ټول ټال اتۀ مخه لري او د دې نه پس د عددي شمېر "۱" نه تر "۱۳۲" مخه پورې دوام لري. چې پکښې په ډنټئيزې مخ پاڼې "الف" د کتاب نوم "مظلوم امام" د غټ خط په قلم غټ ليکلے شوے دے. او په مخ "ب" د کتاب متعلق د فهرست ورپسې مخ "ج" تړون ته ورکړے شوے دے. او پس له دې نه د مخ "د" نه تر "ح" پورې په مخونو د مؤلف د کتاب او د کتاب د چاپ پحقله آراء يا سريزه ورکړے شوې ده. دغه شان د وړومبي ځل د چاپ له مخه دا کتاب (مظلوم امام)

چې په نولس سوه شپږشپېتم (۱۹۶۶ء) کښې چاپ د ے يو سل څلوېښت (۱۴۰) مخه لري.خو د دوېم ځل چاپ له مخه پکښې د "دوېم کرت" د عنوان لاندې د مؤلف دوېمه اراء شامله کړې شوې ده چې پوره پنځه (۵) مخه لري. د مؤلف په دې اراء کښې د کربلا دواقعاتو پحقله درې اهم وجوهات بيان کړې شوې دي چې د دې وجوهاتو له مخه د مورخينو درې ډلې رامېنځ ته کيږي چې پکښې هره يوه ډله د خپلې خپلې نظريې د مضبوطولو دپاره پوره پوره دلائل وړاندې کوي.د دوېم کرت دا صفحات چې شمېره ئې پنځه مخه لري، که چرې د کتاب د نورو صفحاتو سره ورګډې کړے شي نو دا کتاب به په يو سل پنځه څلوېښت (۱۴۵) صفحاتو اډانه ولري. چې په کال ۱۹۸۲ء کښې شاهين برقي پرېس پېښور کښې په دوېم ځل چاپ شوے د ے."10

مظلوم امام د مير مهدي شاه ديني تاريخي زنداني کتاب د ے. چې د "کربلا" د واقعاتو په پس منظر او پېش منظر ليکلے شوے د ے. دا کتاب په اول ځل مهدي باچا په رمضان المبارک ۱۴۰۲ هـ کښې په ۱۴۵ مخونو مشتمل چاپ کړے د ے.

"دا کتاب د کربلا په واقعه ليکلے شوے د مير مهدي شاه مهدي باچا يو ډېر مهم منثور اثر د ے چې هغوئ د ځنې نورو تاريخونو نه د استفادې کولو په غرض خپل قام ته د سوغات په توګه خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې وړاندې کړو، دا کتاب د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د

کشر خور، نمسي حضرت امام حسېن رضی الله عنه او د هغوئ د کورنۍ پحقله د اسلام دپاره په ورکړې شوو بې مثاله قربانو لیکلے شوے دے چې د امام علي مقام د شخصیت په بېلا بېلو اړخونو پوره او کره رڼا پرېباسي او د هغوئ د کورنۍ د اسلام په خاطر د ورکړې شوو قربانو څرګندونه کوي"11

"د درېو کالو سخت مشقت د قېدولو نه پس د مچ لوئې بندي خانې ته اورسولے شو او یو څو ورځې تېرې شوې نو دغه موقع ما د خپل ځان دپاره غنیمت اوګڼله او د خدائي خدمتګارو په تېر دور مې یو کتاب لیکل شروع کړو. ځکه چې هلته زمونږ په ملګرو کښې اکثریت د هغو کسانو ؤ چې د کومو کسانو نه د تحریک ابتداء شوې وه. او بیا لا ښۀ خبره خو پکښې دا وه چې مونږ سره د پښتونخوا د مختلفو علاقو سیاسي قېدیان موجود ؤ. او د ډېرې مودې نه زما دا ارمان ؤ چې خامخا دغه اصلاحي او انقلابي تحریک باندې کتابونه لیکل پکار دي. ما د دغه کتاب دپاره تاریخي معلومات راغونډول".12

۳ : د شعور سپوري

دا کتاب په غزلونو، نظمونو، فرد، حمدونعت او بعضې نیم ځائے کښې طنزیه او مزاحیه شعرونه هم د اصلاح په غرض لیکلے شوي لري. د کتاب ټول موجوده صفحات یو سل پنځه (۱۰۵) ته رسي. چې پکښې څلور نظمونه، دولس قطعات، درې فرد شعرونه او پاتې ټولې غزلې دي، خو په غزلیاتو کښې یو غزل نما نظم حمد او بل غزل نما نظم بعنوان "تجدید

ایمان" هم شامل دي، چې د غزلیاتو په زمره کښې راوستل به ئې ځۀ ناشونې خبره نۀ وي ځکه چې دغه نظمیه غزلې زما په خیال نظم کم او غزل ته زیاتې ورته دي. بله دا چې مهدي شاه باچا صېب هم د غزلیاتو د حروف تهجي په پټۍ کښې شاملې کړې دي، په دې لحاظ سره د غزلیاتو ټوله شمېره ئې یو اتیا ته رسي، ولې دلته دا خبره کول هم ضروري ګڼم چې دا کتاب نیمګړے او نامکمل حالت کښې دے ځکه چې ډېر ځایه پکښې د حروف تهجي په ترتیب کښې پرېکړه راغلې ده لکه د مثال په ډول د ځ، څ، ډ، ژ، ښ، م، ن، ڼ، و وغېره.

اسلام ته

"اســلامه تــۀ لــه مــا ګیلــه کــړې زۀ درتللــے نشــم
ســتا دروازې تــه پــه صــحیح نظــر کــتلے نشــم

تـۀ هـم پـه جېـل کښـې شـوې محصـور د مسـلمان دلاسـه
زۀ هــم یــم ګېــر پــه آرډینــنس ترېنــه وتلــے نشــم"13

دا شعرونه او دغه شان یو شمیر نور شعرونه دي چې په هغې کښې زنداني اصطلاحات، اشارات او کنایات واضحه په نظر راځي۔

۴ : د غټو مجرمانو ډائیري

د دې ډائیرۍ په باره کښې مهدي شاه باچا په خپل کتاب د سورت فاتحه تفسیر کښې داسې یادونه کړې ده ۔

"مونږ چې په کال ۱۹۲۱ء جولائي په میاشت کښې د سیاسي سرګرمو په الزام کښې د درېو کالو سخت مشقت د قېدولو نه پس د مچهـ لوئې بندیخانې ته اورسولے شو

او يو څو ورځې تېرې شوې نو دغه موقعه ما د خپل ځان دپاره غنيمت اوګڼله اود خدائي خدمتګارو په تېر دور مې يو کتاب ليکل شروع کړو ځکه چې هلته زمونږ په ملګرو کښې اکثريت د هغو کسانو وو چې د کومو کسانو نه د تحريک ابتدا شوې وه. او بيا لاښهٔ خبره خو پکښې دا وه چې مونږ سره د پښتونخوا د مختلفو علاقو سياسي قېديان موجود وو. او د ډېرې مودې نه زما دا ارمان وو چې خامخا دغه اصلاحي او انقلابي تحريک باندې کتابونه ليکل پکار دي، ما د دغه کتاب يعنې "د خدائي خدمتګارو تېر دور" په‌حقله دپاره تاريخي معلومات راغونډول"14

"دا د مهدي شاه باچا د جېل هغه ډائيري ده چې د جېل دننه يې د جېل په واقعاتو،حالاتو او ملګرو ليکلې ده ـ دغه واقعات په پښتون رساله کښې د "يو قيدي" په نوم قسط وار چاپ شويدي ـ لاندې ورته مهدي باچا په خپل نوم داسې يادګېرنه ليکلې ده ـ پښتون کښې د مديرِ اعلى په حېث د کار کولو نه علاوه به مهدي شاه باچا په بېلابېلو قلمي نومونو خپل ليکونه خپرول."15

"دغه واقعه زما د جېل د ډائرئ يوه برخه ده ـ چې د لاهور کلي سر انداز باباماته د هغې واقعې نه پس کړې وه کومه چې انګريز سپرنټنډنټ مسټر يانګ زمونږ د احاطې د کېلې ګل په خپل بينت زره زره کړو ـ او دا يې وويل دغو مجرمانو ته د ګل د کتو اجازت نشته"16

د دې ډائيرۍ دا يوه واقعه کومې چې مهدي شاه باچاپه دې واقعاتو ليکلو مجبوره کړو، چې آخر دا کومه ګناه وه چې د خدائي خدمتګارو نه شوې وه چې د ګل د کتو يې هم په سختۍ سره منع کول۔ دا ټولې سختې يې صرف او صرف د ازادۍ د پاره برداشت کړي دي۔ دا واقعات د ۱۹۶۱ نه شروع شوې دي نمونه يې څه په دې ډول ده ۔

"نن د دسمبر۱۹۶۱ اتلسم تاريخ وو ۔ نن زمونږ د سحر پروګرام بدل غوندې ليدې شو ځکه چې نن سحر د موسم په لحاظ زمونږ د پاره بالکل نوې وو ۔ د بارک بندۍ نه پس هم مونږ دا زړورتيا نۀ شوه کولې چې دروازه مو لرې کړې وې ځکه چې بهر داسې سيلۍ وه چې صرف غرونه ورته ټينګ وو ۔ ۔ ۔ مونږ چې د مونځ او چايو نه فارغ شو نو ما خپل قلم او کاغذ راواخستو او د سرانداز بابا کډۍ له راغلم هغه هم پويه وو د بارک ديوال ته يې ډډه وهلې وه زۀ چې کيناستم نو نور کسان هم راغلل سر انداز بابا خپل ځان قيصې ته تيار شو"17

"چې مهدي باچا په پښتنو او پښتو دومره مئين ؤ چې کۀ په جېل کښې به ؤ او کۀ بهر خو قلم يې د لاسه نۀ دے اېښے، مهدي باچا په صحافت کښې هم ښۀ ګړندۍ منډه وهلې ده چې د دغې خدماتو په نتيجه کښې د مرګ نه پس حکومت په سول صدارتي تمغه اونمانځلو."18

د دنيا په تاريخ کښې به څوک د داسې تربيت مثال پېش نۀ کړې شي لکه څنګه چې د خدائي خدمتګارو تربيت شوې وو، اخلاص، صفانيت، مينه، امن، رورولي، پت، پښتون ولي، مسلماني او باچاخاني د هغوي

ټوله دنیا وه د دې نه اخوا دیخوا یوې خبرې منلو ته تیار نۀ وو ـ دا هر څۀ هغوي په عملي توګه ثابت کړي هم وو ـ مهدي باچا هم د دغې کاروان ملګرے و د نور ژوند مثالونه خو یې په خپل ځاے خو دا وصیت یې د نمونې په توګه وړاندې کووم ـ ـ

"ماله چې د قمر راهي صېب مینه ناک لیک راغلو نو وړومبے پکښې ئې د خلپې"فلو"د بیمارۍ"هجو"لیکلې وه ـ بیا یې لیکلي وو چې وهمي سېب وائي چې "مهدي خپلو زامنو ته وصیت کړې و چې کۀ د کفن پېسې درسره نۀ وي نو د قرض کفن کښې یې ښخ نۀ کړئ ـ خپلو جامو کښې دې ښخ کړي ـ چې د وهمي دا خط مې ولوستو نو دننه ذرې ذرې شوم ـ مهدي شاه ټول عمر د خلقو د خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره جدوجهد وکړو او په خپله ئې دا حال وو"19

دا وو د مهدي باچا د پښتونولۍ،خدائي خدمتګارۍ او سوچه مسلمانۍ عملي نمونه چې په ګفتار او کردار دواړو یې د ژوند تر اخري سلګۍ پورې ثابته کړه ـ

"د پښتو ادب دې نومورې ځلنده لوړ مبارز قلمکار او سیاستمدار میر مهدي شاه مهدي باچا په دې فاني دنیا یو ویشت ورځې (۲۱) اتۀ میاشتې (۸) او د اویا (۷۰) کاله عمر تېرولو نه پس د نهې په ورځ پنځۀ نیمې بجې په زیړې مازیګر ۲۴ ستمبر ۱۹۹۲ء زمونږ نه تلعمري دپاره جدا شو او د شورو په ورځ په ۲۵ستمبر ۱۹۹۲ء کښې په "واحد ګړهۍ" کښې خاورو ته اوسپارلے شو"20

د خدايي خدمتګارۍ په تاريخ کښې د هر يو خدمتګار ژوند لکه د پرانستې کتاب دے،خو کوم چې ناخوانده وو هغوي دغه زنداني واقعيات په خپلو،ذهنونو،سينو او خواصِ خمسه کښې محفوظ کړې دي او کوم چې خوانده وو هغوي ته چې کله هم موقعه په لاس ورغلې ده نو دغه ياداشتونه يې د قلم په ذريعه هم خوندي کړي دي چې زمونږ د پاره لويه تاريخي سرمايه ده۔

خو په دغه خدائي خدمتګارو کښې مهدي باچا د يو ډېر عجيبه ذهن،فکر او ظبعيت خاوند وۀ،چې خپل ټول،مال،جان او وخت يې دې کار ته وقف کړي وو چې په نتيجه کښې يې د قام،خاورې او مذهب خدمت هم اوکړو او خپل نوم يې هېشه د پاره ځلنده خوندي کړو۔ کوم چې مونږ ته د هغوي په نورو ادبياتو کښې عمومي او په زنداني ادبياتو کښې خصوصي ښکاره په نظر راځي۔

# حوالې


1. اجمل خټک، قیصه زما د ادبي ژوند، د وريد خان رځړو په اهتمام، **۲۰۰۵**ء مخ **۱۷۲**-**۱۷۷**
2. حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، سید میر مهدي شاه مهدي (ژوند فکر او فن)، باچا خان مرکز پېښور **۲۰۱۱**ء مخ **۹**
3. هم دغه اثر، مخ **۱۱**
4. فضل مولا"د میر مهدي شاه مهدي د ژوند او فن تجزیاتي مطالعه"پښتو څانګه پېښور پوهنتون، ۲۰۱۰ ،مخ ۱۸
5. د پښتو ادب ځلنده ستوري، تذکره، متکبه اباسین چارسده **۱۹۸۴**ء مخ **۱۹۱**
6. فضل مولا"د میر مهدي شاه مهدي د ژوند او فن تجزیاتي مطالعه" مخ ۱۴۴
7. هم دغه اثر،مخ **۱۲**
8. هم دغه اثر، مخ۲۹
9. مهدي، میر مهدي شاه، روڼ سحر، شاهي باغ پېښور، **۱۹۲۵**ء مخ **۲۱**
10. فضل مولا"د میر مهدي شاه مهدي د ژوند او فن تجزیاتي مطالعه"۱۶۴
11. هم دغه اثرمخ ۲۹
12. مهدي شاه، باچا، سوره فاتحه، مخ ،ج
13. مهدي شاه باچا"دشعورسیوري"ناچاپ،مخ۸۱
14. مهدي شاه باچا، د سوره فاتحه د پښتو تفسیر، مخونه ب، ج
15. فضل مولا"د میر مهدي شاه مهدي د ژوند او فن تجزیاتي مطالعه"مخ ۲۴۹
16. مهدي شاه،مهدي"د غټو مجرمانو ډائري" پښتون پېښور ۱۷ نه تر۲۳ دسمبر ۱۹۸۹ ،مخ۲۶
17. هم دغه اثر مخونه ۲۶،۲۷
18. ورځپاڼه ،آج، پېښور، **۲۴** مارچ **۲۰۱۳**ء مخ **۱۰**
19. ایاز داودزے"ادبي هڅې" دانش کتابتون قصه خوانی بازار پېښور،۲۰۰۲ ،مخ ۷۶۰ - ۷۶۱
20. فضل مولا"د میر مهدي شاه مهدي د ژوند او فن تجزیاتي مطالعه"مخ ۴۱

# دَ ترقي پسند تحريک پس منظر

Dr. Nasrullah Khan*

ABSTRACT:

This paper explains the background of the progressive movement in the literary circles of Indo-Pak. Literature is the direct inspiration from the society, which is not static in nature. Therefore, body language of human, change with the nature of social changes in the society. It was the capitalism in second decade of the nineteenth century which caused and initiated resistance to human exploitation. The literary progressive movement was initiated as a result of the literary resistance in the Europe followed by the socio-economical exploitation the subcontinent.

دا يؤ کوټلے حقيقت دے چې حرکت دَ ژوند دويم نوم دے.تر څو چې دې کائنات کښې دَ انساني ژوند حرکت موجود وي دا کائنات به ودان وي اؤ ورځ په ورځ به دَ ژوند تقاضې بدلېږي.نوي نوي حالات به مخښې ته راځي دَ دغه حالاتو دَ حل دَ پاره به څوک دَ زور نه کار اخلي ، څوک به دَ حکمت لارې ګودرې لټوي ولې داسې هم شوې ده چې دَ پرو پۀ کښې دَ سياست نه کار اخستے دے.

دا هم يو منلے حقيقت دے چې هر ادب دَ يؤ خاص شعور پېداوار وي. ادب اؤ ژوند لازم اؤ ملزوم وي. دَ ژوند خوارۀ تراخه حقيقتونه کله نېغ پۀ

* اسسټنټ پروفېسر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون مردان

نېغه اؤکله پۀ علامتي اندازکښې دَ ادب جولۍ ته ځان غورزوي. پۀ تاريخي دؤرونو کښې دَ هر تحريک پۀ شا دَ ادب لاس وي ، ادب اجتماعي فکر ته يوه لاره هواره کړي اؤ معاشرې ته دَ خپل منزل نخښې نخښانې وښايي چې د ے پرې دَ ژوند دَ ارتقاء يون کوي.
ترقي پسند تحريک پۀ اصل کښې يؤ ادبي تحريک ؤ خو دَ دې پۀ پسمنظر کښې ځينې سياسي،سماجي،معاشي اؤ اقتصادي عوامل دخل لري،دَ کومو پۀ وجه چې وروسته ترقي پسند تحريک پۀ وجود کښې راغلے د ے.

## سياسي اؤ سماجي پس منظر

ترقي پسند ادبي تحريک هغه وخت زور ونيولو کله چې پۀ ګړده نړۍ دَ عام اولس دَ استحصال پۀ وجه پۀ معاشره کښې انتشار،ظلم،جبر،بې انصافي اؤ سماجي لري بري سر ښکاره کړو. دَ حکمراني طبقې سره دَ اولس هيڅ فکر نۀ ؤ.سرمايه دَ يؤ څو کسانو ميراث ګڼلے کېدو نو پۀ داسې وخت کښې دَ معاشرې ويښ ضمير لرونکي دانشوران راپاڅېدلؤ دَ بې انصافۍ خلاف ئې جهاد شروع کړو.

۱ .. دَ سرمايه دارانه نظام (CAPITALISM) مخالفت

دَ سرمايه دارانه نظام جرړې دَ ډېرې مودې نه پۀ دې معاشره کښې موجودې وې. دَ دې نظام تر مخه دَ سرمايې اؤ دولت دَ غلط استعمال صرف يؤ څو کسانو پورې محدود کېدلو اؤ عام اولس دَ ظلم اؤ جبر سره مخامخ وو،نو دَ قلم خاوندانو پۀ روڼ تندي دَ دغه نظام مخالفت شروع کړوچې دَ معاشرې نه دغه لر ے بر ے ختم کړي. دَ دې تحريک دَ شروع کېدو پۀ حقله محمد حنيف ليکي.

"کله چې دَ نولسمې صدۍ په دوئمه نیمه کښې دَ دولت په یؤ ځایې راجمع کېدل شروع شو اؤ صنعت و تجارت ذاتي اؤ شخصي لاسونو ته راغلو اؤ په دولت دَ زیاتې نه زیاتې ګټې دَ پاره جمعې شروع شوې اؤ دَ دې غرض دَ پاره دَ انساني محنت استحصال شروع شونو سرمایه دارانه نظام سر ښکاره کړو." ۱

نو دغه سرمایه دارانه نظام یؤ بنیادي عنصرؤ چې مخالفت ئې وشواؤ دا مخالفت په عمومي توګه ترقي پسندو دانشورانو اؤ دَ سوشلزم منونکو وکړو چې وروسته دَ ترقي پسند ادبي تحریک دَ پاره یؤ بنیادي محرک ثابت شو.

## ۲ .. سماجي نظام (SOCIALISM)

دَ سرمادارانه نظام په جواب اؤ ردِعمل کښې دَ سوشلزم په نوم یؤ سماجي نظام سر ښکاره کړو چې بنیادي مقصد ئې په معاشره کښې دَ طبقاتي لرې برې ختمول اؤ سماجي نظام سمول وو. دَ دې نظام تر مخه دَ سرمایې اؤ وسائلو دَ محدود لاسونو په ځایې دَ مجموعي اؤ شریک اختیار لاندې راتلل اؤ استعمالول،دَ سرمایه دارې طبقې خلاف اواز په شریکه وچتول وو.

"سوشلزم دَ یؤ داسې تحریک نوم دے چې تر مخه ئې دَ پېداوار،تجارت اؤ ګټې اختیار اؤ استعمال په مجموعي لاسونوکښې وي.سوشلزم دَ انساني تاریخ په هر دور کښې دغه مقصد دَ پاره کار کړے دے ."۲

دغه تحریک په سیاسي ، سماجي اؤ طبقاتي حواله ډېر بدلون راوستو چې کمیونزم ته ئې لار هواره کړه.

۳ ... کميونزم (COMUNISM)

دَ سرمايه دارانه اؤ جاګيردارانه نظام خلاف چې دَ سوشلزم منونکو دانشورانو کوم نظريات وړاندې کړل دَ هغې نه دَ کميونزم په نوم يؤ باقاعده سياسي ،سماجي اؤ اقتصادي نظام اؤ فلسفه وزېږده چې وروسته دَ ترقي پسند ادبي تحريک دَ ټولو نه لوي ادبي محرک شو.

دَ دې تحريکونو زياته توجه په طبقاتي لري بري اؤاقتصادي فلسفه وه، دَ کوم دَ سيوري لاندې چې ئې دَ غريب اؤ مفلس اولس دَ حقونواؤ مسئلو دَ حل کولو دَ پاره اؤ دَ ظالم،غاصب حکمران اؤ جابر اولس دَ ناروا سلوک اؤ استحصالي روئيو دَ غندنې دَ پاره اواز پورته شو.

## ادبي اؤ تاريخي پس منظر

دَ ترقي پسند تحريک په ادبي اؤ تاريخي پس منظرکښې دوه قسمه محرکات زمونږ مخښې ته راځي.

۱ .. دَ مغرب دَ ادبي تحريکونو محرکات

۲ .. دَ برصغر دَ سياسي اؤ سماجي حالاتو ادبي اثرات

۱ ..... دَ مغرب دَ ادبي تحريکونو محرکات:

په مغرب کښې په مختلفو دؤرونو کښې ګڼو ادبي تحريکونو سر ښکاره کړےدے ، چې دَ دغو مرکز اؤ محور درې تحريکونه پاتې شوي دي.

۱ . کلاسيکي ادبي تحريک

۲ . روماني ادبي تحريک

۳ . مقصدي اؤ حقيقت پسند ادبي تحريک

۱ . کلاسيکي ادبي تحريک:

پۀ لغوي اعتبار سره دَ کلاسک نه مراد اعلیٰ ترین اؤ معیاري دے.
صدیق روهي دَ کلاسک پۀ حقله لیکي

"کلاسک پۀ مفرد شکل معمولاً هغه ادبي اثر ته وئیل کېږي،چې پۀ ټولو تاریخي دؤرو کښې دَ خپلو عالي اؤصافو اؤ ممتازو وجوهاتوله امله دَ هر چا له خوا ستائل شوےوي."۳

پۀ نورو ټکو کښې به داسې شي چې کله کلاسیکي لیکوال څۀ ولیکي نو دَ هغه لیک اؤ دَ لیک مقصد پۀ ټوله نړۍ پۀ هر وخت اؤ هر ځایې کښې یؤ شان اثر پرېباسي.یعنې دَ هغه لیک کۀ پۀ زرګونو کاله زوړولې نۀ وي خو دَ وخت تېرېدل پۀ هغه هیڅ اثر نۀ کوي.

۲ . روماني ادبي تحریک:

دا تحریک پۀ حقیقت کښې دَ کلاسیکي ادبي تحریک پۀ جواب اؤ ردِعمل کښې سر ښکاره کړو اؤ وروسته دَ نړیوال ادب یؤ لوئې اؤ فعال تحریک وګرځېدو رومان دَ زړې فرانسۍ ټکےدے چې مطلب ئې دَ عامو خلقو خبرې دي.دا تحریک دَ اتلسمې صدۍ دَ وروستو اؤ دَ وولسمې صدۍ پۀ وړومبۍ حصه کښې سر ښکاره کړے دے.صدیق روهي پۀ خپل کتاب ادبي څېړنې کښې دَ الفرد دوموسه وېنا نقل کوي چې رومانتسېزم هغه ستوري دي چې ژاړي اؤ هغه باد دے چې زګېروي کوي،هغه مرغۍ ده،چې دماغ خوشبویه کوي.

غرض دا چې رومانتسېزم پۀ ادب،فلسفه،هنر،مذهب اؤ سیاست کښې دَ پخوانو شکلونو پۀ ضد یؤ عکس العمل بللےکېږي.

۳ . مقصدي اؤ حقیقت پسند ادبي تحریک:

ریالېزم یا حقیقت نګاري معنیٰ دَ ژوند اؤ واقعت څرګندولو ته وائینو دې ډول ادبي اثار چې ژوند ئې واقعي اؤ رښتنې ډول بیان کړے وي. ریالسټک بللے کېږي. وئیلے کېږي چې دَ یونان مشهور شاعر هومر دَ حقیقت نګارۍ پلار دے.

> "دَ ریالزم مقصد دَ هر شي اؤ هرې پېښې دَ واقعې ، کېفیتونوبیان اؤ پلټنه اؤ دَ هغو تر مېنځ دَ ذات البیني روابطو څیرل دي." ۴

<u>۲... دَ برِصغیر دَ سیاسي اؤ سماجي حالاتو اثرات:</u>

ترقي پسند ادبي تحریک څۀ اتفاقي یا حادثاتي نۀ ؤ اؤ نۀ دَ چا سازش ؤبلکې دَ ورومبي جنګِ عظیم نه ورسته چې دنیا کښې کوم حالات پېداشوي ووډَ دغه قدرتي نتیجه وه ، چې پکښې یؤنیم کروړ ځوانان مړه ، دوه نیم کروړه زخمیان اؤ لاپته شوي وو اؤ اربونو روپو سامانونه کښې سوې وو. هر ملک کښې دَ دې خلاف تحریکونه شروع شول ، پوهانو قلمونه تېرۀ کړل اؤ دَ خلقو اودۀ ضمیرونه ئې راؤنړول. دَ دغه تحریکونو اثر هندوستاني ادب هم وشوچې وجه ئې دَ انجمن ترقي پسند مصنفین دَ قیام شکل ښکاره شو.

ډاکټر سلیم اختر لیکي چې

> "ادب اور تہذیب کی حفاظت کے لیے گورکی ، رومین رولاں ، طامس مان، ہنری باربوس، آندرے مالرو کی رہنمائی میں ۱۹۳۵ میں ادیبوں کی ایک بین الاقوامی کانفرنس پیرس میں منعقد ہوئی جس میں ساری دنیا کے بڑے بڑے ادیب شریک ہوئے--- سجاد ظہیر اور راج انند نے لندن میں مقیم ہندوستانی طالب علموں کی مدد سے ترقی پسند

*مصنفین کی انجمن بنانے کے خیال کو عملی جامہ پہنایا۔۔۔۱۵ اپریل ۱۹۳۶ میں انجمن کی پہلی کانفرنس لکھنو میں منشي پریم چند کی زیر صدارت منعقد ہوئی ." ۵*

دَ ازاد هندوستان نه پس دَ هندوستان اؤ پاکستان ترقي پسند ليکوالو خپلې سرګرمۍ بېل بېل شکل وړاندې بوتلل شروع کړل ځکه چې دَ دواړو ملکونو سياسي اؤ سماجي حالات ، عصري غوښتنې دَ يؤ بل نه جدا وې پاکستان کښې دَ دې تحريک وړومبے کانفرنس ۶ دسمبر ۱۹۴۷ کښې وشو. چې دا تجويزونه ئې لرل

ا ..امن ، ازادي ، جمهوريت اؤ دَ اقليتو تحفظ

۲ .. اردو ذريعه تعليم ګرځول

۳ .. تهذيبي مهم له وده ورکول

۴ .. انډيا اؤ پاکستان تهذيبي اشتراک

۵ .. دَ پناه ګزينو مسئله اؤ دَ جاګيردارۍ دَ نظام خاتمه

## ترقي پسند تحريک پښتونخوا کښې

پښتو ادب بلکې دَ پښتنو عملي ژوند اؤ تاريخ دې خبره ګواه دےچې ترقي پسند سوچ، فکر، رويه اؤ عمل دَ پښتنو خټه ، مزاج، ذهن اؤ وجود کښې داسې اخښلي شوي دي چې دَ هغې نه بغېر دَ پښتون وجود ، دَ پښتون تاريخ، دَ پښتو ادب اؤ ثقافت نيمګړې ځۀ چې تصوّر ئې هم نۀ شي کېدے. هم دغه سوچ ، فکر، رويې اؤ عمل پښتنو ته تاريخ کښې يؤ ځلنده مقام ورکړے دے. دَ پښتو دَ کلاسيکي ادب نه واخله تر دې دمه دغه تحريک ځۀ نا ځۀ شکل کښې جاري دے. دَ خوشحال اؤ دَ رحمان نه مخکښې دَ پير روښان تحريک نه ئې مونږ اثار وينو اؤ دا کړۍ دَ باچاخان بابا خدائي خدمتګار تحريک ته رارَسي.

## پښتونخوا کښې دَ انجمن ترقي پسند مصنفینو څانګه

پښتونخوا کښې یؤ خوا دَ انجمن اصلاح افاغنه اؤ خدائي خدمتګار تحریک دَ سیوري لاندې دَ ترقي پسند ادب روایت موجود ؤ نو بل خوا دَ کاکاجي صنوبر حُسېن مومند ترقي پسند دانشور ادبي هلې ځلې هم زمونږ مخې ته دي چې اصلي شکل کښې دَ ترقي پسند ادبي تحریک اثرات ئې پښتو ادب ته داخل کړل . دغه دوه مضبوط ادبي روایتونه وو چې پښتونخوا کښې ئې انجمن ترقي پسند مصنفینو تنظیم ته لار هواره کړه.

> "پښتونخوا کښې دَ دې تحریک اؤ تنظیم اصلي محرک کاکاجي صنوبر حُسېن مومند ؤ چې دَ هندوستان دَ مرکزي تنظیم اؤ سیاسي حواله کمیونسټ پارټۍ سره نېغ نېغه تعلق لرلو، کاکاجي دَ سوشلزم مرستیال ؤ اؤ پښتون ئې پېدائشي سوشلسټ ګڼلو." ۶

دَ صنوبر کاکاجي نه علاوه رضاهمداني دَ پښتونخوا یؤ داسې شخصیت دے چې دَ انجمن ترقي پسند مصنفینو دَ قیام ابتدائي دور کښې دَ مرکزي تنظیم سره ئې تعلق ؤ. کله چې سجاد ظهیر سره دَ خپلو ملګرو کال ۱۹۳۶ کښې دَ ترقي پسند مصنفینو بنیاد هندوستان کښې کېښؤدو نو رضا همداني دغه وخت دَ دې انجمن دَ مجلسِ عامله رُکن ؤ. پاکستان کښې دَ دې تنظیم باقاعده څانګه دَ پاکستان دَ جوړېدو نه پس کال ۱۹۴۸ کښې دَ فارغ بخاري کوششونو پرانستے شوه.

اولسي ادبي جرګه دَ کاکاجي ، دوست محمد خان کامل اؤ امیر حمزه خان شینواري مشترکه کوششونو جوړه شوې وه چې پښتو ادب کښې دَ

تخليق اؤ تنقيد حقله ئې ستر کار کړے دے. دَ دغه وخت دَ جرګو غونډو کښې اجمل خټک ، سېف الرحمان سليم ، عبدالخالق خليق،ولي محمد طوفان ، همېش خليل ، مير مهدي شاه ، فارغ بخاري، رضا همداني ، خاطرغزنوي، ايوب صابر، قلندرمومند، لطيف وهمي ، مراد شنواري اؤ عبدالرحيممجذوب وغېره شرکت کولو. دَ ترقي پسند ادب دَ ترويج دَ پاره دَ کاکاجي ، حمزه بابا اؤ دوست محمد کامل کوششونو مارچ ۱۹۶۳ کښې اولسي ادبي جرګه جوړه شوه چې دَ پښتو ټول ترقي پسند ليکونکي ئې غړي وو.

دَ کال ۱۹۵۷ پورې دا ادبي جرګه پۀ تسلسُل سره چلېده ولې دَ څۀ ناجاړه حالاتو پۀ وجه دا اولسي ادبي جرګه بنده شوه ولې يؤ ځل بيا پۀ کال ۱۹۶۳ کښې دَ قلندر مومند پۀ کوششونو دَ ساهو ليکونکو معرکه پۀ نامه دا جرګه پۀ وجود کښې راغله چې تر ننه دوام لري اؤ ورسره دَ انجمن ترقي پسند مصنفينو پښتونخوا څانګې هم دَ وقفو وقفو سره خپلې هلې ځلې جاري ساتلې دي.

## دَ ترقي پسند تحريک مقصد اؤ منشاء

ترقي پسند دَ نوم اؤ اصطلاح تر مخه خو ډېره زړه نۀ ده خو دَ معنويت مفهوم اؤ طرز فکر پۀ حواله دَ ترقي پسندی جرړې زړې دي اؤ بيا دَ يؤ تحريک اؤ تنظم دَ پاره ترقي پسندی اصطلاح دَ کال ۱۹۳۳ پېداوار دے.کله چې پۀ مارچ ۱۹۳۳ کښې دَ ترقي پسندوليکونکوګډه افسانوي مجموعه انګارې دَ حکومت له خوا ضبط کړے شوه ،نو دَ آله اباد پۀ يؤ اخبار ليډر کښې دَ ۵ اپرېل ۱۹۳۳ پۀ پرچه کښې دَ دغه عمل خلاف دَ ترقي پسندو ليکونکو يؤ بيان چاپ شوچې پۀ کښې پۀ وړومبي ځل دَ يؤ

تنظیم دَ پاره LEAGUE OF PROGRESSIV AUTHERاصطلاح مخې ته راغله.

دَ ترقي پسند تحریک مقصد اؤ منشاء ته محمدطاهرفاروقي اؤ خاطر غزنوي داسې ګوته نیسي:

,, ادب کا ترقی پسند نظریہ تین چار اہم اصولوں پر مشتمل ہے مثلاً

ا . ادب کو زندگی خصوصاً اجتماعی زندگی کا ترجمان اور اس کا معاون ہونا چاہیے.

۲ . ادب کو انسانیت کا ترجمان اور غمگسار ہونا چاہیے

۳ . ادب کو ترقی کا علم بردار ہوکر ازادی کا ہم درد ہونا چاہیے

۴ . ادب میں سچائی حقیقت اور عقلی صداقتوں کی مصوری ہونا چاہیے." ۷

غرض دا چې دَ ژوند پۀ ریښتوني اؤ صفا شکل وړاندې کول پۀ اصل کښې ترقي پسندي ده اؤ دَ ترقي پسند شاعر اؤ دانشور دَ ټولو نه لوي مقصد هم دا پکار دے چې هغه دَ معاشرې ترجماني پۀ ریښتوني شکل وکړي اؤ دَ معاشرې دَ خوشحاله جوړولو دَ پاره کار وکړي.

کوم ادب چې عیاشي،فحاشي اؤ عریاني خوروي ترقي پسندي پۀ حقیقت کښې دَ دغه قسمه ادب خلاف ردِعمل دے. دَ دې لنډ اؤ تنګ بحث نه مونږ پۀ دې نتیجه رسو چې..

۱ . ترقي پسند ادبي تحریک پۀ پس منظر کښې څنې سیاسي،سماجي معاشي اؤ اقتصادي عوامل دخل لري چې له وجې ئې دغه تحریک پۀ وجود کښې راغلو.

۲ . دَ دې تحریک مقصد دَ سرمایه دارانه ، جاګیردارانه اؤ پۀ معاشره کښې دَ لري بري نظام ختمول وو.

۳ . دَ دې تحریک پۀ ادبي اؤ تاریخي منظر کښې دوه قسمه محرکات:

(۱) دَ مغرب ادبي تحريکونه اؤ(۲) دَ برصغير سياسي اؤ سماجي حالات ډېر لاس لري کوم چې پۀ مغرب کښې کلاسکي ادبي تحريک ،روماني ادبي تحريک اؤ مقصدي اؤ حقيقت پسند ادبي تحريکونه وو.

۴ . پۀ برصغير کښې دَ دې تحريک ابتدا دَ سجاد ظهير پۀ کوششونو پۀ کال ۱۹۳۶ کښې وشوه.

۵ . پۀ پاکستان کښې دَ ازادۍ نه پس پۀ ۶ دسمبر۱۹۴۷ کښې دَ دې تحريک وړومبے کانفرنس وشو.

۶ . دَ دې تنظيم باقاعده څانګه پۀ پاکستان کښې پۀ کال ۱۹۴۸ کښې دَ فارغ بخاري پۀ کوششونو پرانستے شوه.

۷ . دَ دې تحريک دَ پاره ترقي پسندۍ اصطلاح پۀ کال ۱۹۳۳ پۀ اخبار ليډر کښې(چې دَ اله اباد نه چاپ کېدو) استعمال شوه.

# کتابيات

1. محمد حنيف، پۀ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحريک اؤ دَ پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقيقي اؤ تنقيدي جائزه،پي ايچ ډي مقاله،پښتو څانګه،پېښور پوهنتون،ناچاپه،کال ۲۰۰۸ء مخ ۱۵
2. همدغه کتاب، مخ ۱۶
3. محمد صديق روهي ، ادبي څېړنې،دانش خپروندويه ټولنه ، تخنيکي څانګه پېښور،کال ۲۰۰۷ ء مخ۳۷۲
4. همدغه کتاب، مخ ۳۸۸
5. همدغه کتاب، مخ ۴۰۰
6. ډاکټر سليم اختر، اردو ادب کي مختصر ترين تاريخ ، سنګ ميل پبلکشنز،اُردو بازار لاهور، چاپ اتم،جولائي ۱۹۸۱ ء مخ ۲۲۲ ، ۲۲۳
7. محمد طاهر فاروقي و خاطر غزنوي، پاکستان ميں اُردو، يونيورسټي بک ايجنسي،خيبر بازار، پېښور، بار اول ۱۹۶۵ ء مخ ۱۹۹

# د همېش خلیل د "چارګل" یوه تنقیدي څېړنه

# A Critical Analysis of Hamseh Khalil's Chargul

Jamshed Iqbal*

**Abstract:**

The purpose of this research study is tocritically analyzeChargul which is a collection of fictions written by Hamesh Khalil, a great Pashto poet, famous literary figure, researcher, critic and well-known political activist of his own epoch. The study brings to the limelight different aspect of Chargul briefly. It is also based on the argument of depicting the revolutionary aroma of Chargul. The study reveals that Hamesh Khalil has inimitably projected the philosophy of KhudaiKhidmatgar Movement in these fictions.The analysis of Chargul also denotes that Hamseh Khalil has made remarkable efforts in creating political consciousness in the minds of his readers. The study concludes that the present-dayPashtuns are still ensnared in the problems that had long been depicted by Hamsesh Khalil in Chargul, written during his imprisonment indifferent jails.

* پي ایچ ډي سکالر ډیپارټمنټ آف ایجوکېشن عبدالولي خان پوهنتون مردان

**لنډيز:**

د دې تحقيقي هڅې بنيادي مقصد د پښتو ژبې ستر شاعر، نوموړے اديب، محقق، نقاد اؤ د خپل وخت سياسي مبارز ښاغلي همېش خليل صېب د افسانو"چارګل"يوه تنقيدي کره کتنه کول دي اؤ پکښې د چارګلافسانو ګنړ اړخيزه اړخونو باندې يوه لنډه رانړه اچوول دي.دا تحقيقي هڅه ګرانو لوستونکو ته د چارګل انقلابي رنګ په ګوته کول دي. ددې افسانوکرکتنې نه دا خبره مخې ته رازي چې د همېش صيب په افسانو د خدايئ خدمتګارۍ رنګ ښه جوت ښکارياؤ د پښتون اُولس سياسي بېدارۍ جذبه راپارولو په زړۀ پورې هڅه ده.پُښتون اُولس اُوس هم هغه شخړو اؤ پېخو سره مخ دے د کومو عکاسي چې همېش خليل پۀ چارګل کښې کړېده.

**مهمه ټکي:**

پښتو ژبه، پښتو افسانې، همېش خليل، افسانوي ادب، چارګل

چارګل د پښتو ژبې ستر شاعر، نومړے اديب،محقق،نقاد اؤ د خپل وخت سياسي مبارز ښاغلي همېش خليل د افسانو مجموعه ده چې

"په اول ځل په فرورۍ۱۹۷۳ءکښې د يو زر تعداد سره د محمود خان په کتابت کښې د منظورعام پرېس پېښور نه چاپ شوي ده اؤ خوروونکے يئ دارُلتصنيف دے."1

د ښاغلي جاوېداقبال د تحقيقي څېړنې په رنړا کښې

"د همېش خليل د ټولو افسانو شمېره تر دېارلسو پورې ده."2

" خود ا کتاب ټولې نهۀ افسانې لري-"3

اؤ په يو سل اؤ پينځلس مخونو خور دے. "پانسي"، "د يو سياسي قېدي مرګ"، "رامرکۍ" اؤ "سانده ګره" د افسانه نګار هغه څلور افسانې دي چې په مختلفو دورونو کښې د چارګل د چاپ کېدو نه مخکښې اؤ وروستو په مختلفو رسالو اؤ مجلو

"پښتو"، "اسلم" اؤ "سباؤن" کښې چاپ شوي دي۔"4

خو د چارګل برخه نۀ ده.

کۀ څۀ هم فضل حق شېدا په خيال د اوږې افسانې دي اؤ کېدے شي چې

"د نن نقادان ورته افسانې هم ونۀ وايئ." 5

ولې بل خوا د پښتو ځنې ډېر نقادان د ې خبرې سره اتفاق نۀ کوي اؤ دا رائے لري چې" اختصار د افسانې عېب نه بللکې خوبې ګڼړلے شي..

"اختصار د افسانې هغه بنيادي ستن ده چې د افسانې عمارت ته نوره هم ښکلا اؤځلا بخښي."6

هم دغه وجه ده چې د ېويشتمې صدۍ په دې تېز اؤ د الېکټرانک ټېکنالوجي په ښکېل کښې ګېر د خلقو اؤ په خصوصي توګه افسانو مېئنانو د پاره دا افسانېد لوست ېوه ښکلي نمونه ده. ددې خبري په دليل کښې څېړن کار جاوېداقبال خپلې څېړنې،"پښتوافسانې ته د همېش خليل بخښنې"د سر خط لاندې په مخ نمبر۹۱ليکي:

" ښاغلي همېش خليل د اُردو افسانوغرقه مطالعه کړې ده، دې سره سره ېئ د انګريزي افسانې هم ترڅۀ حده پورې مطالعه. هم دغه وجه ده چې هغۀ په خپلو افسانوکښې دفنې توکو ډېرخيال ساتلے دے. د هغه د

هرې افسانې تمهيد ډېر زړۀ راښکوونکے دے.دې سره سره ژوندۍ کردارنګاري، تجسس، په زړۀ پورې کلائمکس اؤ اېنټي کلائمکس نه علاوه د واقعاتوترتيب هم دده افسانوي مجموعه چارګل بې مثاله جوړه کړې ده."7

د چارګل انتساب همېش خليل د خپلې مور چاچې ورته پښتو ښودلې ده پۀ نوم کړے دے اؤ ورپسې يې خپلې خبرې ليکلې دي. دالنډې اؤ مختصرې افسانې همېش خليل پۀ کال۱۹۶۱ء کښې د ګرفتارۍ نه پس د درې کالو پۀ څلورو مختلفو زندانُونو سنټرل جېل مچ،سنټرل جېل ډېره اسماعيل خان اؤ سنټرل جېل هرې پُور کښې ليکلې دي.د چارګل کتاب نُوم هم د چارګل په نوُم باندې دےکومه چې يوه انقلابي افسانه ده. يو کوچے پُښتون چې د ډيورېنډ لائن پۀ لاره پښتونخوا ته د ژمي په موسم کښې راکُوز شو ے وي د جاسوسۍ په الزام کښې بې ګناه هتکړۍ په لاس د خپلې لوُر دُرخو مخکښې اُودرېږي څوک چې د چارګل په طمعه وي. داافسانه اُوس هم د پښتنو د ننني کړکېچنو حالاتو يوه ښکلې هېنداره ده چې:

بـــدنام كـــړے چـــې د هـــر جبـــر قـــانُون يـــم
زمالوېـــه ګنـــاه داده چـــې پُښـــتون يـــم

ښاغلي سېدظفرالله بخشالي په خدايئ خدمتګار تحريک کښې د فضل الرحيم ساقي په ستر کردار اؤ دغه تحريک کښې دهغۀ په نۀ هېريدونکي خدماتو باندې بحث کړے دے. د خپلې دغه څېړني په پېژندګلوکښې د خدايئ خدمتګارتحرېک متعلق وايئ چې

"دغه تحریک د پښتون قام دپاره نۀ صرف یو قامي بلکه یو نوے تحریک هم وو.باچاخان سره د خپلو ملاتړملګرو په برکت دې تحریک ته د پښتنو په خاوره اؤ په ګرده نړۍ کښې یوه نوې پېژند ګلوورکړه. دغه تحریک که یواړخ ته سیاسي بېدارۍ پېدا کړې ده نو بل طرفته یئ د پښتنو خدمت اؤ اصلاح سره سره د پښتو ژبې، صحافت اؤ ادب په سرځنړه کښې سترول لوبولے دے." 8

"د خدایئ خدمتګار تحریک پېل کېدل د هند په تاریخ کښې یوه مهمه سیاسي، سماجي اؤ کلتوري مبارزه وه." 9

د دغه تحریک ګنړاړخیز کردار اؤ بشپړه اثرات د دې خبرې نه په ښکاره ډول جوتیږي چې:

"د پښتو په سماجي، سیاسي، ثقافتي، تعلیمي اؤ معاشرتي بدلُون کښې خدایئ خدمتګار ېو ستر رول لوبولے دے. په پُښتون قام کښې په اجتماعي ډول سیاسي اؤ تعلیمي شُعور بېدار وؤلو د پاره خدایئ خدمتګارانو د ژوند تر آخري سلګو پورې په خلاص متۀ هلې ځلې کړېدي."10

"دې تحریک د پښتو ادب هم نېغ په نېغه متاثره کړے دے. یو طرفته خدایئ خدمت ګار تحریک دپښتو ستر ډرامه لیکونکي عبدالکبر خان اکبر، امیر نوازخان جلیا ،عبدالخالق خلیق اؤ فضل کریم دپېو غوندې مخې ته راوستول."11

نو بل طرفته دعدم تشدد پۀ فلسفه ولاړ دغه تحريک پښتو شاعرۍ اؤ افسانو ته هم يو نوے رنګ بخښلے دے.هم د غه وجه ده چې همېش خليل په خپلو خبرو کښې وايئ چې دوي سره جېلُونو کښې اجمل خټک، سيد مير مهدي شاه مهدي،حُسېن بخش کوثر،ارباب سکندر خان خليل،خان ميرهلالي،فضل رحيم ساقي اؤ سعادت خان جلبل غوندي ملګري چې د پښتو د ا دب پۀ آسمان ځلنده ستوري وو هم موجود وو ددغې ټولو اديبانو د فکر الوت ډېر اُوچت وو چې د زندان زنځيرونه اؤ بېړۍ ورته هېڅ هم نۀ وو.

ښاغلے اسير منګل په خپل تحقيقي ليک،"پښتو افسانه د يوې صدۍ قيصه؟" کښې ددې زېرک افسانه نګارانو د پښتو افسانې ته بشپړه خدماتو ذکر داسې کوي چې،

> " دپښتو افسانې دويم دور۱۹۵۰ء نه تر ۱۹۸۰ء پورې په درې لسيزو مشتمل دے. دا د پښتو قيصه ايز ادب يو موړ پټ دور دے چې ځلا ورته اولسې ادبي جرګې ورکړې ده.....ذکرکړے شوي افسانه نګاران] ددې دور ژوندي ليکونکي دي. اؤ په وړومبي ځل بۀ پښتو افسانه ژوند ته نژدې کړه. اؤ په اصلي معنوکښې بۀ دخپلې ټولنې انځورګري کړي ده."12

د پښتو پهدې وړو خوندورو افسانو کښې زما په نزد په پښتون قام کښې د سياسي شعُور بېداړولوهمېش خليل ډېره کامېابه هڅه کړې ده. ولې چې هغوي

> "چې په کوم دور کښې افسانې لېکلي دي هغه د پښتُون اُولس سياسي اؤ سماجي غورځوپرځوزمانه وه.... په خپلو

افسانو کښې [ېږ] بنيادي موضوع هم دغه سياسي اؤ
سماجي حالات ګرځولي دي"۔13

ښاغلي فضل حق شېدا د چارګل په سريزه کښې هم دې خبرې ته زمونږه پاملرنه راګرځوي چې

"همېش خليل د ظلم،زياتي، استحصال اؤ امريت خلاف
قلمي جهاد شروع کړو چې تر اُوسه جاري دے."14

هم دغه رنګ ښاغلے شېدا پۀ مخ نمبر ۱۳ ليکي،

"همېش دخوارۍ، نيستۍ اؤ بې وسۍ سره سره د زور
ظلم، حرص اؤ عياشۍ تصوير ښۀ جحت راکاږي."15

د ظلم اؤ بربريت په مېچن کښې دل شوې اولس هندارهپه يو نوي اؤ زړۀ راښکوونکې انداز کښې همېش صيب راښکلې ده. د همېش خليل د چارګل کردارونه د ذور اؤ ظلم ښکار دي. اؤ هم دغه رنګ د چارګل هېواد هم ښکار دے.لکه څنګه چې دهمېش خليل د خپل حقيقي هېواد ګريوان تار تار دے داسې هېواد لکه

"د ګل څانګې دي وطن د انساني حقوقو په خزانه د يو څو
ښاسته ښامارانو د پاره جنت خو وو ، ولې د ګل څانګې
غوندې بې شماره انسانانو د پاره د حسين دوزخ نه کم هم
نۀ وو."16

هم دغه رنګ په مور نومې افسانه کښې بۀ ېږ چې د جان پناه قيصه کوله نو همېش خليل ته بۀ يو ځل بيا دا تريخ حقيقت راڅرګند شو.

"اؤ کله کله به بې چې د قيصې په مېنځ کښې دسپين دېو
نامه واخسته نو مانه بۀ دکوه قاف دېو هېر شو. ماته به

زمونږ په وطن د استعمار سپين سپين دېوان راوړاندې شول.“17

هم د داسې قسمه ناګړدو نه ډک چاپېرچل کښې د جان صحت د تباهۍ ذمه وار مونږ ته په مخ نمبر ۳۷ په ګوته کوي اؤ وايئ چې

”پوه ورځ ډاکټر هم لکه زمونږ د رهبرانو د جان د ارزوګانو دا مختصره قافله د ېو بې سحره شپې په تېارو کښې پرېښوه.“18

همېش خليل خپل پُښتون اُولس ته دخپلې مورنۍ ژبې پښتو د زده کړې اهميت په عملي توګه د اخري سبق د فرانسيسي ژبې نه پښتو ته ژباړلي شوي افسانه کښې ښکاره کوي .کله چې فرانسيسيان هم په دوېم نړيوال جنګ کښې خپلې فرانسيسۍ ژبې سره ناروا سلوک شروع کړي نو موسيو هېمل هم خپل اولس اؤ شاګردانو ته وايي چې:

”دا د ټولو نه واضحه اؤ د منطق ژبه ده اؤ دې وخت کښې د دغه بې وسه ژبې حفاظت اؤ ژوندۍ ساتل زمونږ ورومبے فرض دے اؤ کوم مريي قومونه چې خپلې ژبې ژوندۍ ساتي نو د خپلې بندي خانې چابېانې لکه چې په خپلو جېبونو کښې ساتي.“19

کله چې پښتون اُولس کښې باشعوره اؤ تنګيالو خلقو دآزادۍ بېرغ اوچت کړے دے نو مغلو اؤ پېرنګيانو سره سره هم د دغه خلقو په مرسته خپلو خلقو اؤ وروستو د حکومتونو واکمانو د پښتنو هلو ځلو ته په کره سترګه کتلي دي. ېو حقيقت ېو افسانه هم د داسې قسمه واقعاتو ېوه ښکلي هنداره ده.

"چې پکښې د خدايي خدمتګارانو مرکز وران پروت وُو اؤ
قوم پرست پښتانۀ د زندان تېارو کښې ورک پراتۀ وو."20

هم دغه رنګ د چارګل نورې افسانې لکه ننا مېا ،مينه،وينه اؤ پېښماني کښې افسانه نګار په خلاص متې په خپل چاپېرچل طنز کړے دے اؤ د خپلې معاشرې غلط رسمونه اؤ رواجونه ېئ مونږ ته په ګوته کړي دي.

د همېش خليل دا افسانې که ډېره موده مخکښې چاپ شوي دي اؤ يقيناً چې ګڼړو مينوالو به لوستي هم وي خو د ادب دېو ادنیٰ لوستُونکي په هېڅ به زۀ دا اووايم چې داسې قسمه افسانې ليکل اؤ لوستل دواړه د وخت اهم ضرورت دے. پُښتون اُولس اُوس هم هغه شخړو اؤ پېڅو سره مخ دے د کومو عکاسي چې همېش خليل په چارګل کښې کړيده.د ناکړدو په دې سترې ژوند کښې پښتون اوس هم بې آرامه دے. وطن ېې لکه د لېوني د ګرېوان شلېدلے اؤ تارتار دے. په بېن المللي توګه اؤ د خپلې خاورې غټانو اؤ د استبداد په نشه مستو اُوس هم د بې وسۍ، استحصال ،غلامۍ اؤ ګڼړو شمېرو مسئلو په زنځيرونو کښې تړلے دے.

د چارګل ټولې افسانې ددې خبرې انګازه ده چې:

تـــل خــرڅ کــړے يمـــه خپلـــو رهبرانـــو
د وختونـــو پـــه بـــې رحمـــه دلالانـــو
پـــه مـــخ مـــخ يمـــه وهلـــے غاصـــبانو
چـــې حـــالاتو پـــه دار کـــړے نـــن پـــرون يـــم
زمـــا لويـــه ګنـــاه داده چـــې پښـــتون يـــم

# اخځلیک:


۱:خلیل، همېش، چارګل، دارُالتصنیف عقب ډاکخانه قصه خواني، پېښور،۱۹۷۳ء، ۲مخ

۲: اقبال، جاوید، پښتو افسانې ته د همېش خلیل بخښنې، تکتُو، شپږمیاشتینۍ پښتو/انګریزي مجله، پښتوځانګه بلوچستان یونیورسټي، کوټه، جنوري-جون ۲۰۰۹ء، ۹۰مخ

۳: چارګل، (فهرست)، ۳ مخ

۴:پښتو افسانې ته د همېش خلیل بخښنې، ۹۰مخ

۵:شیدا، فضل حق، (سریزه) ،چارګل، ۱۳مخ

۶: پښتو افسانې ته د همېش خلیل بخښنې، ۹۳مخ

۷: ایضاً ،۹۱مخ

۸: بخشالي، سید ظفرالله، خدائي خدمتګار تحریک کښې دفضل الرحیم ساقي کردار، پښتو، جلد نمبر۵۴، نمبر۶۵۱، جنوري جون ۲۰۱۶ء، ۲۴۵مخ

۹: کاکړ، ډاکټر،برکت شاه او بازئ، صالحه، د خدايئ خدمتګار غورځنګ ارتقائي پلونه: کلتوري او ټولنیزه څېړنه، تکتُو، شپږ میاشتینۍ پښتو/انګریزي مجله، پښتوځانګه بلوچستان یونیورسټي، کوټه، جلد۹ ، شماره نمبر۱۰ ، جولائي-دسمبر، ۲۰۱۷ء، ۲۸مخ

۱۰: اقبال، جمشید ، اروابناد چینارګل، پښتو ، ورځپاڼه، پېښور، ۱۹۹۹ء،۱۱مخ

۱۱:اقبال، جمشید او باره، کلیم الله، په خیبر پښتونخوان کښې د خدائي خدمتګار د ازاد سکولونو ګڼ اړخیزه کردار **The Multidimensional Role) Of Azad Schools Under KhudaiKhidamatgar MovementInKhyberPakhtunkhawa**)، پښتو، جلد۲۴، نمبر۴۶، ۱۳مخ

۱۲: منګل، اسیر، پښتو افسانه د یوې صدۍ قیصه؟، تکتو، شپږ میاشتینۍ پښتو/انګریزي مجله، پښتوځانګه، بلوچستان یونیورسټي، کوټه،دویمه ګڼه، جولایي-دسمبر، ۲۰۰۹ء، ۹۲مخ

۱۳: ایضاً، ۹۲مخ

۱۴: شیدا ، فضل حق، (سریزه) ،چارګل، ۱۰مخ

۱۵: ایضاً، ۱۳مخ

۱۶:چارګل، ۱۷مخ

۱۷: ایضاً، ۲۹مخ

۱۸: ایضاً ،۳۸مخ

۱۹: ایضاً، ۱۱۰-۱۱۱مخونه

۲۰: ایضاً،۹۶مخ